THE LIBRARY OF
CONGRESS
SERIAL RECORD
APR 4 1944

کابل

وئې وایاست :ـ

١ :ـ دپټی خزانې نثرته یوه کتنه
٢ :ـ د خوب تحلیل
٣ :ـ رحمان او حمید
٤ :ـ سپین غر
٥ :ـ غرجستان
٦ :ـ روح څارونکی

١٥١

(۱۳) کال　　میزان ۱۳۲۲　　(۷) گڼه

کابل

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : گل پاچا «الفت» دپښتو ټولنی مبصر

او دصحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ

تلگرافی پته : کابل ؛ پښتوټولنه

ټول لیکونه ع، ص عبدالحی خان «حبیبی» دپښتو ټولنی عمومی مدیر او دمطبوعاتو دمستقل ریاست معاون ته کېږی

اشـــــــتراک

کابل :	۲٤ افغانی
دننه مېنه :	۲٦ «
دباندی :	۱ سترلنگ پونډ
دښوونځیو زده کوونکی ته	۱۲ افغانی

ددی ګڼې لیکونکی

لیکنه	لیکونکی	مخ
دپښتو خزانې نثر ته یوه کتنه	ښاغلی « حبیبی »	۱
دثقافتونو امتزاج او ګدون	د « « سیفی » ترجمه	۵
خلقی ضعف او اغیزه ئې		
پراجتماعی ژوند	د ښاغلی « واسعی » ترجمه	۸
دملګیا رسنداره		۱۲
مخ	« پیر محمد کاکړ »	۱۳
پښتانه شاعران	« «	«
پاخه ویل	مرحوم « مخلص »	۱٤
سپین غر	« « بینوا »	«
« «	« « رشتین »	۱٦
مړژوانده ډېوه	« « بریان »	۱۷
زمالمړی شعر	« « سید بهاؤالدینخان »	۱۹
غزل	« « رافتی »	«
تپله	طلوع افغان .	«
له ګلو سره	د ښاغلی « سیفی » ترجمه	۲۱
ساعت یازده	« « « اریز وی » «	۲۲
ماشوم اومرګ	« « « «	«
دګلوونه	« « نظامی » «	۲۳
د خوب تحلیل	« « محمد رسولخان قندهاری	۲٤
دنوی پوهنې له اساسو څخه	« « سیفی » ترجمه	۷۲
غراوغرجستان	« « حبیبی »	۳۲
پښتو په تیر ومیاشتو کی	« دپلټونکی » له قلمه	۳۳
رحمان او حمید	« « الفت »	۳۵
روح خارونکی	د « « سیفی » ترجمه	٤٦
ماګیو لینه	« « « بینوا » «	٤۹
عکسونه (۸) قطعی		

151B54
27Nu44

دپښتو خزانې نثر ته یوه کتنه

ښاغلی « حبیبی »

په تېر وشمارو کی می دپښتو دادب دنوی کشف شوی خورا مهم کتاب پرشاؤخوا لږ څه څېړنه وکړه ، او ځنی ادبی اولغوی اوتاریخی مزایا مې دروښوول ، ځکه چه ددې مهم کتاب هره خوا دغوراو تدقیق وړده نو په دې کښه کی غو اړم ، چه د نثر له پلوه ئې اهمیت خرګند کړم ، ځکه چه دغه کتاب لدې لا مله هم مهم دی ، اوښایی چه دپښتو دنثر په تاریخ کی ډېر ښه ځای ونیسی ، نوددې دپاره چه دموضوع غوښتی او غروری ښه وسپړلی شی ، لږ څه به دپښتو دنثر تاریخ ته هڅه وکړم ، بیابه نو دتاریخی څېړنی په سیوری کی خپل مطالب ښکاره او روښه کړم .

دپښتو نثر تر ۱۰۰۰ هـ دمخه :

دپښتو دنثر خورا قدیم اوپخوانی اثرچه تراوسه زموږ لاس ته راغلی دی ، هغه خو پاڼی دی ، چه د مرحوم سلیمان ماکو دورك کتاب تذکره اولیاء څخه راپاته دی ، او داپاڼی زموږ دژبی د نثر لیکلو زوړ اوپخوانی ډول راښکاره کوی .

دمخه تر دې چه دسلیمان ماکو د کتاب خو پاڼی زمالاس ته نه وې راغلی ، ټولو داګمان کاوه ، چه داخوند درویزه نیم منثوری لیکنی دپښتو قدیم اوزوړ دنثر سبك دی .

مګر وروسته چه دسلیمان ماکو د کتاب پاڼی ماوموندلې ، اوطبع اوخپرې شوې ، داخبره ورسره زباده اوخرګنده شوه ، چه ترا خوند درویزه دمخه پښتو دژبی دلیکنی دپاره یو خورا ښه سبك درلود .

دسلیمان ماکو نثر که څه هم داسی نثرندی ، لکه اوس چه ئې موږ لیکو ، مګر دژبی محاورې اواساس ته خو ډېر نزدې دی ، او داښکاره کوی ، چه زموږ پخوانو پښتنو د (۶۱۲ هـ) په شاو خوا کی دژبی ومحاورې ته نزدې نثر لیکه ، اومقفی اومسجع لیك ئې نه درلود .

مګر تاسی ته به ښه ښکاره وی ، چه دمغولو تر دورې را وروسته ، په پارسی نثر کی هم یو خورا کرغېړن تصنع ګډسو ، چه دپخوانی ساده اوسلیسی انشاښېګړی ئې تو لی ور کی کړې ، او داسی متصنعه انشا رواج سوه ، چه هغه ته نثر مسجع و یلی شی ، پر پښتو هم دې مضر تحریك اثر وکړ ، او دپارسو دمسجعو اومقفی انشاوو په مقابل او تقلید کی پیر روښان په خیرالبیان کې تر ۹۰۰ هـ وروسته یو دنثر لیکلو ډېر کرغېړن سبك را ویوست ، چه جملې اوخبری ئې مسجعی اومقفی کړې ترده وروسته اخوند درویزه په مخزن اسلام کی هغه سبك وپاله او داسی ئې خپور کړ چه تر درو خلوروسو وکالو پوری ئې خلقو تقلید کاوه .

لکه چه مادمخه هم په یوه څېړنه کی کښلی وه . لمړی سړی چه دژبی دې نقص ته متوجه سو ، او دخیرالبیان ناوړه سبك ئې پرېښو ، اودپخوانو په څېړنې څه ولیکل دپښتو پلار مرحوم خوشحال خان وو ، چه زامنو او لمسیونې هم دده سبك وپاله ، او تاریخ مرصع اوپښتو ګلستان غوندی آثارئې په نثر و کښل .

خلو پښت کاله دخوشحال خان ترمرګ وروسته دقندهار په سیمه کی یو بل زبر دست لیکونکی او مورخ پیداسو چه دلیك یوروڼ اوخوږ سبك ئې راویوست چه هغه نومحمد دداؤدخان هوتك زوی وو ، چه په خزانه ئې کښلې ده .

ددې غښتلی او ګړندی لیکوال د سبك اثر موږ په وروستنو لیکونکو کې هم په ښه ډول وینو ، بلکه محمد هوتك تر ۱۰۰۰ه وروسته په‌دې درې نیم سوه کاله کې د لیك داوسنی سبك لمړنی استاد ګڼو. رشتیا خوداده، چه‌دخیرالبیان دناوړه‌سبك دورکولو دپاره‌خو خوشحال خان زیارو کیښ ، مګرده‌ئې‌تولی ناوړی نسوای پرېښولای ،نوخه نه‌خه دهغه تراغېزې لاندی هم‌سو، مګردپټی خزانې‌لیکونکی په‌دې‌جهد کې بریالی سو ، اوخپل تړئې دخیر البیان له ناوړو څخه سپېڅلی کړ ، اوله هغه جوغه ئې آزاد کړ .

دمحمددنثر ښېګړی:

محمد هوتك نثر له مسجعو او مقفی عباراتو څخه سادګی اوبساطت‌ته‌ښه رانږدې کړ ، اولکه چه ښایی محاوره ئې پر نثر غالبه کړه ، یعنی دخپلو مطالبو په بیان کې دنورو ژبو تراغېزی نه‌سو لاندی ، مثلاً سلیمان ماکو دجملو په تلفیق کې دعربو تراثرلاندی ښکارېږی ، او بیا خوشحال خان او عبدالقادر خان اوافضل خان اونورثر لیکونکی دپارسو تروړانګو لاندی دی ، خو محمد هوتك له‌دغو اغېزو څخه ډېر ځان ژغورلی دی .

سړی چه‌دده نثرلولی نوداسی خیال کوی ، چه‌یوپښتون په ژبه‌را سره ژغېږی ، او قلم ئې پر محاوره اغېزه‌نده‌کړی .

زه دانه‌وایم : چه‌دمحمدنثر له‌ټولو ناوړو څخه‌تش دی،خونسبت نورولیکوالوته‌دده‌نثرسپېڅلی،غوره‌اوتکړه ښکاری ، دبیان‌قوت لری ، اود معناو په تصویراو لیك کې ځان نه بایلی ، د نورو ژبو اغېزه نه منی .

یولیکوال هغه‌وخت غښتلی او ګړندی بلل کېږی چه‌د لیك تعابیر ئې د ژبی دعنصری اصولو سره سم وی ، او دبیان او څرګندونی پر وخت ئې ځان داسی په واك وی، چه‌له نورو ژبو څخه کوم تعبیراو دافادې لیاره ، استعاره نکړی . او لکه خوشحال خان‌چه وایی :

محتاج دنورو نورو نغریو شی
سړی‌چه خپله‌کټوه ماته کا

د خپلو محاورو وی ښېګړو په‌پرېښو ونه . دنورو تعابیرو ته په لیك کې اړ نسی ، او د ځان ادبی اړتیاوی، له‌خپلی ژبی‌څخه بشپړی کړی .

محمد هوتك تریوې اندازې په‌دې مهم کار کې بریالی ښکاری اولکه نور دخپلی لیکو ال هر ځای او هر ګړی پر دیو تعابیرو او افادو ته کچکول په لاس ولاړ ندی خوتو انېزی له دې ناوړو ځان خوندی کوی ، او دګړندی قلم په مرسته‌خپل‌مطالب خوازه،روان،جذاب اوخونده ورلیکی.

دمثال په څېردغه لاندی کرښی وګوری، :

مرحوم سلیمان ماکو چه‌نثرئې دقدماودلیك یوه نمونه ده ، لکه‌چه دخه می‌وویل ، له‌اوسنی محاورې څخه ډېر لیری ندی ، خوبیاهم دمحمدهوتك درجې‌ته نرسېږی ، او د سلاست اوروانی‌له‌پلوه ئې نثر نسبت محمد هوتك ته ترنځ اوبې واکه ښکاری . خو بیاهم دخیر البیان له ناوړه سبکه ډېر ښه دی ، وګوری، سلیمان خپل کتاب داسی شروع کوی :

«وایم حمدوسپاس دلوی‌خاوند، او درودپرمحمد مصطفی صلی‌الله علیه‌وسلم ، چه‌دی بادار دکونینو او رحمت‌دثقلینو، لوی‌لوی رحمتونه دی‌وی دهغه‌استازی پرآل او یارانو چه دواړه جهانه په دوی دی روښان . » (۱)

دې‌لیك ته‌چه‌موږ ګورو ، که‌څه‌هم‌مسجع اومقفی ندی ، مګر کټمټ دمحاورې او خبرو اترو پرسیاقت هم‌ټك ندی ، لیکونکی څه‌نه‌څه دنورو ژبو تراغېزی لاندی دی ، اوداسی ځنی ښکاری ، چه‌خپل لیك ئې ټوله سرتړپایه دژبی پرخپل اصلی‌ډول اوسیاق ندی سم کړی ، خوبیاهم ډېر روښان او څرګند اولږڅه خوږپه نظر راځی .

وروسته چه‌خیرالبیان‌ولیکل‌سو، که‌څه هم‌دا کتاب نثردی ، اونظم نه ګڼل کېږی، خوبیاهم سړی دانسی ویلای ، چه‌دانثر دی ، ځکه‌ځنی جملې‌ئې دنظم‌رنګ

(۱) پښتانه شعراء ج ۱

لری ، اودجملو په پای کښې دقافیې حروف او اصول هم ساتی ، مثلاً داټوټې له خیرالبیانه دی :

« ویلی دی سبحان ، کب چه په اوبو کښې گرزی مخې واوبو وته شی ، هسی هرلوروته چه وجاوزی مخ ئې وماوته شی دادمیانو . »

« د کمی میاشت که یو کس ووینی روژه دی نه ماتوی گوښی ، که علت وی په آسمان . گواهی دې نه قبولوی امام ، بیرون ددوه مېړه ، اویایو مېړه ، دوې اروتی وی ، که علت نه وی په آسمان . گواهی دی نه قبولوی امام ، بیرون دډېرو آدمیانو (۱) »

دخیرالبیان دسبك نمونه دغه وه چه له عمومی محاورې اود کلام له اوسنی سیاقه ډېره لیری ده ، اودغه سبك چه دخیرالبیان لیکونکی ئې غالباً مؤسس دی ، اوترده دمخه په دغه ډول دبل چالیك تر اوسه موږ ندی لیدلی وروسته ئې دډېرو لیکوالو له خوا استقبال وسو ، اوترڅو پېړیو دپښتو دینی لیکونه په ټوله پښتونخوا کی په دغه ډول کېدل .

مثلاً اخوند درویزه چه تر (۱۰۰۰ ه) وروسته ژوندی وو ، که څه هم دخیرالبیان دخاوند سخت دښمن او مخالف وو ، خو په لیك کی دهغه تابع او پیرو دی داجملې وگوری :

« امام عمر نسفی هسی ویلی مبرهن دی . چه صوفیان دحق دوستان دی هم دزړه په پاك کردن دی (۲) »

که دفوایدالشریعه ، اوبابو جان اونورونثرونه وگورو ټوله دغسی مسجع او مقفی اودتکلفه او تصنعه ډك دی ، اوس به نو دخوشحال خان دنثر یوڅو جملې وگورو ، چه داښکاره سی چه دې مرحوم خان څنگه ځان له هغه ناوړه تقلیده ویوست او خپل نثر ئې بېرته دمحاورې اساس ته رد کړ ، داجملې دخوشحال خان د کلیلې اودمنې له پښتو ترجمې څخه دی :

« پادشاه ووې چه په دی حکم کی له ما خطا وشوه اوخبره په حال دقهر کی ځماله خولې وختله ، ولی بایده دی ، چه تاپه هغه چاری کی دغه رنگ تأمل په ځای را ووړ ، چه لایق د حال د ناصحانو دی (۳) »

وگوری : دانثرهم دنورو ژبوله اغېزې کورټ او چرپاك ندی ، خو دخیرالبیان او اخوند درویزه نثرته هم لږورته نه ښکاری ، اما دسلیمان ماکو خواته مایل معلومېږی .

ترخوشحال خان وروسته دعبدالقادر خان خټك دپښتو گلستان نثر ، اودافضل خان خټك دتاریخ مرصع او کلیلې دمنې نثر ، یو بل ته سره ورته دی ، او ټول دخوشحال خان تعقیب او پیروی کوی .

مگر زموږ دپټی خزانې لیکونکی محمد دخپل مقتدر او گړندی قلم په مرسته هسی نثر منځ ته راباسی ، چه تر نورو ټولو لیکوالو په صفوت او سلاست او پښتنی خصوصیاتو کی اوړی ، اوغالباً دپښتو داوسنی نثر موجد اولمړنی مؤسس بلل کېږی ، چه ترده وروسته داحمدشاه بابا په عصر کی پیر محمد کا کړ او بیاد محمدزو په دوره کی دوست محمد خټك چه دخوشحال خان له کورنۍ څخه وو اودقندهار په پاشمول کښې اوسېدی ، اووروسته مولوی احمدجان په پېښور کښې دغه سبك ژوندی کړ اوترموږه پوری ئې راورساوه .

اوس تاسی دتېرو مثالونو په څنگ دپټی خزانې دغه جملې هم کښېږدی ، اووگوری چه څه فرق او توپیر لری اود محمد نثر څه ښېگړی اومزایا په ځان کی خوندی کړی دی ؟

د کتاب ابتداء :

« حمدوثنا ده هغه خدای ته چه انسان ئې په ژبه او بیان لوړکا ، او تمیز ئې ورکا له نورو حیوانانو ، په نطق اووینا سره ، او خپل کلام پاك ئې نازل کا په افصح بیان سره چه هغه معجز او ابلغ دی ، له کلامه دټولو بلغا اوفصحا » (٤)

دیوه شاعر دحال په بیان کی هسی وایی :

« عشقی ځوان دی اوزړه ئې له لاسه ایستلی ، پخپل محبوب پسی ژاړی ، زاری کا ، گریانی کا ، دردمن زړه لری ، اوسترگی داوښکو ډکی لری ، مینی هسی په اور سوی دی ، چه له کوره کلی ورك وی ، سوزنا کی بدلی لولی ، اوکله چه ددردمندانو په ډله کښینی مجلس ژړوی اوغمجن زړونه پخپلو نارو غلبلو سوځی ، زمانه دده پر ځوانی افسوسونه کا ، اوعشق ئې جنون ته رسېدلی دی » (٥)

اوس نوتاسی وگوری ، چه دمحمد نثر څه څه ښېگړی لری او له خپلو اسلافو څخه ئې په څه شی کی سبقت

---

(۱) دهند دزړو آثارو مجله (۲) مخزن اسلام قلمی . (۳) دراورتی پښتو گرامر .

(٤) پټه خزانه ، قلمی ص ۱ (٥) پټه خزانه قلمی ص ٦٥

کړی دی، زما په عقیده خو د محمد په نثر کی داخواص اوښکاری سته :

۱ـ محمد لمړی سړی دی، چه د ژبی نثر ئې د نورو ژبو له ډېره تقلید وژغوره .

۲ـ نثر ئې د ژبی د ویلو او محاورې عمومی سیاق ته تر پخوانو ښه نژدې کړ .

۳ـ په لیکلو کی سادگی او روانی ته هڅه ده مغلق الفاظ او مشکل اوسره پیچلی تراکیب نلری .

٤ـ تعابیر ئې خوازه او جملې ئی پرې پرې اولنډی دی چه ویونکوته ئې وینه گرانه نه وی .

٥ـ کله کله چه محمد، د مقصد په تعبیر کی، کلمات له خپلو ځایو څخه سره اړوی ، نو دغه اړونه او سره تېروبېر کول هم ډېر مستکره او کرغېړن نه ښکاری مثلاً :

«نوئې زه وغوښتم خپل دربار ته، او ماته ئې تشویق وکا» په دې ځای کی د محاورې سره سم باید داسی کښلی وای :

«نوئې زه خپل دربار ته وغوښتم او تشویق ئې راته وکړ» مگر سره ددې چه مؤلف خبری سره لمړی وروستی کړی دی ، خوبیائې هم د خپل نثر متانت او خوږوالی ندی ورک کړی .

٦ـ د محمد په نثر کی ډېر لږ د نورو ژبو اغېزه ښکاری لکه د سلیمان ماکو په لیک کی چه د عربی اغېزه ښه ښکاره اوخورا باهره ده ، د محمد په لیک کی د پارسو نثر اثر ځای ځای څرگند دی .

داوې د محمد هوتك دلیك او نثر ځنی ښکاره ښېگړی چه د ژبو د تکامل او تطور له اصله سره سم ئې په نصیب سوی دی ، که موږ د ژبو د اوښتو او بشپړتیا ناموس ته ځیرسو ، دا به ښکاره سی، چه عصر او زمان لکه د انسان د ژوندانه ټول عواید چه اړوی، او تغییر پکښې پېښوی دغسی هم ژبی د هری زمانې سره د محیط او احتیاج له پلوه اوښته مومی حتی ځنی ژبی مری، او ځنی نوی ژبی زېږی .

د مثال په ډول یووار د پارسو ژبی نثر ته وگوری لمړنی د نثر آثارئې د سامانیانو په دوره کی زېږېدلی دی او دغز نویانو په عصر کی وده کړې ده ، مگر د دغو دواړو دورو نثرونه شدیداً د عربی تراثر لاندی دی د بلعمی او بیهقی لیکونه که وگوری د عربی رنگ څرگند پکښې ښکاری، لکه د پښتون سلیمان ماکو نثر چه هم کټمټ په هغسی رنگ دی وروسته د غزنویانو په آخر او د غوریانو په دورو کی د مغولو تر یرغله یعنی له (٥٠٠ تر ٦٠٠ هـ) د پارسو نثر یو بل نسبتاً مستقل ډول موندلی دی چه د فخر مدبر آداب الحرب او د منهاج سراج طبقات ئې نمایندگی کوی. دلته د عربی ژبی سیطره لږ سوې ده لکه چه په پښتو کی د خوشحال خان تر عصر وروسته لیدل کېږی. د مغولو تر تاړاك وروسته یو خورا نامانوس او ډېر کرغېړن دلیك سبك په پارسو کی باب سو چه تاریخ وصاف او تاریخ معجم او درهٔ نادره ئې نمونې دی او په پښتو کی کټمټ د خیر البیان او اخوند درویزه سبك هغه ته ورته دی، چه اوږدې اوږدې مسجعی جملې او د تصنع او تکلفه ډك عبارات ئې پکښې مندلی دی او د مقصد تر افادې ئې انشاپردازی ته زور ورکړی دی.

په پارسو کی خودغه غیرطبیعی او متکلف سبك د صفویانو تر پایه موجود وو . وروسته بیا ځنی لیکونکی راغله او له دغو متکلفو او متصنعو لیکونو څخه ئې تره وکړه بیرته ئې خپل نثر اصلاح او پرزاړه اساس سم کړ . په پښتو کښې هم لمړی خوشحال خان د اصلاح او سمون بیرغ لوړ کړ ، او محمد هوتك هغه لاپسی هسك کړ، او د پښتو د او سنی نثر ولې ئې کښېښو وې ، چه تر ده وروسته پیر محمد ، او بیاد ۱۳۰۰ هـ په حد و دو کی مولوی احمد جان ښه پسی اصلاح کړ ، او دغه زموږ اوسنی لیك او انشاهم د دوی د زیار نتیجه ده .

نوزه د پښتو د یوه نثر لیکونکی په ډول د خپلو اسلافو او پیشقدمانو ارواتل له خاونده خوښ غواړم ځکه که د دوی موږ ته د کارستی نه وای اینبی ، او زیارئې نه وای کښل ، اوس به په نثر کی زموږ قلم گوډ وای، او د دې عصر له اړتیا و څخه به ډېر لیری پاته وای.

خدای خودی خوشحال خان او د ده کورنی او بیا محمد هوتك او بیا مولوی احمد جان و بخښی ، چه پردې لار ترموږ د څه تللی دی او د لاری لوړی ژوری ئې راښو ولی دی .



دامیر بقطر مصری په قلم :

د ثقافتونو امتزاج او گدون

دښاغلي عزیز الرحمن خان «سیفي» ترجمه:

آیا په ثقافت کښې هم شرقي او غربي شته ؟ !

د ثقافت په پراخه اووسیع معنی کښې د ژوندون دلیارو او تفکیر او شعور ممارست هم داخل دی . او تربیه اوعلوم اوفنون جمیله او دهغې تقدم اوښکلی والی اودټولنو اجتماعی عادات او دودونه او دخوراك څکاك اغوستن او ودونو وطلاق اوقوانینو اوعمومی نظام اوژندون دنورو څانگو مظهر هم د ثقافت دغه عمومی معنی ده . او داد ثقافت هغه وسیع معنی ده چه لیکوال او خطیبان په خپلو مقالو او خطابو کښې د ثقافت دهمدی معنی څخه بحث کوی او که د ثقافت په خواوشا کښې څه وائي نوثقافت دشرقي اویاغربي اویالاتینی، اوسکسونی، او یاجرمانی ثقافت په نوموئي یادوی، او که دوی په یوخاص ثقافت بحث کوی نو دوی د ثقافت څخه د ثقافت انگلیسی اویا امریکائی اویافرانسوی اویاجاپانی ثقافت په نوم بحث کوی لیکن مونږ ددی راز ثقافت څخه په دی خپل مضمون کښې بحث نه کوو بلکه مونږ دلته د ثقافت په عمومی معنی بحث کول غواړو .

زه دا کولی شم چه دا نگلیسی او امریکائی او فرانسوی او جاپانی او المانی او پخوانی اغریقی اوفرعونی اوفنیقی ثقافت په معنی اوممیزاتو ځان پوه کړم . . . ځکه چه هر قام او ملت او هره منطقه په هرعصر کښې ځانته مخصوصه ممیزه لری اگر که په دغه ټولو قامونو کښې ځینی مشترك مسائل هم موجود وی .

لیکن زه په دی خبره نه پوهیږم چه شرقي اوغربي ثقافت څه معنی لری .

مثلاً جاپان یو شرقي ملت دی اوهند هم یو شرقي ملت دی لیکن سره ددی چه دواړه شرقي قامونه دی ددوی دژوندون اوشعور اوتفکیر په مینځ کښې دومره ډیرفرق موجود دی چه دشرقي جاپان اودغربي فرانس په مینځ کښې په هغه اندازه فرق او توپیر نشته . اوسوریا او کوریا چه دواړه شرقي ملتونه دی ددی دواړو د ثقافت په مینځ کښې دومره مشابهت نشته لکه چه دسوریا اوایطالیا د ثقافت په مینځ کښې شته دی .

که انسان ددنیادمشهورومطبوعاتو مطالعه وکړی او دنړی دمشهورو ژبو په مینځ کښې لکه انگلیسی فرانسوی ، المانی ، ایطالوی اوامریکائی دقت وکړی

اوددی ژبو ثقافت دیوبل سره مقایسه کړی اود تناسب جهات یکښې وپلټی نوهغه به دی نتیجی ته ور سیږی چه ددی ثقافتونو په مینځ کښې بالکل دتوافق اومشابهت جنبه نشته اوتول دیوبل څخه مخالف اوځانته جلادی .

اوسره ددی چه دانګلستان او دامریکی خلك په خته او دین اوژبه کښې سره یودی لیکن ددی دواړو قامونو په ثقافت کښې دو مره ډېرفرق دی چه دالمان اوانګلستان په مینځ کښې نشته دی . که مونږ په انګلیسی ژبه کښې د « جنتلمان » کلمه تحلیل کړو نومونږ ته به داخبره معلومه شی چه په انګلیسی ژبه کښې ددی کلمی په معنی کښې ادب اوعلم اوریاضت ته اشارت دی لیکن په فرانسوی ژبه کښې ددی کلمی په مفهوم کښې یوالحی ادب ته اشاره شته اوفرانسویان ددی کلمی په معنی کښې ریاضت نه داخلوی . لیکن دامریکا یا نو په ثقافت کښې داخبره ضرورنه ده چه ادب اوریاضت دی ارو مرو دجنتلمان دشروطو څخه وی .

اوداچه نن ورته اروپایان ثقافت وائی ددی ثقافت اساس هغه پخوانی زوړ اغریقی ثقافت دی چه دعربو او یهودیانو پوهانو ترجمه کړی او دا غریقی ثقافت اساس فنیقی اوآثوری او بابلی مدنیت دی او داټول شرقی ثقافتونه بلل کیږی او دغه شرقی ثقافت دی چه دصلیبی جنګونو په خواوشا کښې دعلمی نهضت په وخت کښې او روپاته منتقل شویدی .

هر کله چه شرق دادیانومهبط و، نوددی خلکو په افکارو کښې زهد او تصوف ځای نیولی واوخیال اوشعر سره ئی مینه لرله .

اواروپانوی دخوب نه راپورته شوی په ودانیوئی کوتی پوری کړی اودترقی په لیار کښې مخ په وړاندی روان شوه اوپه دغه وخت کښې شرقی اقوامو په قهقری رجعت پیل کړی، دتنزل خواته روان و ، او ددوی ثقافت اومدنیت هغوی ته پاته شو .

په دغه وخت کښې شرقی ثقافت دتأخر اوانحطاط دمعنی سره یوه مرادفه معنی پیدا کړه . که مونږ دچاپان د مدنیت او ترقی په وخت کښې د چاپان د ثقافت په خواوشا کښې بحث اوپوښتنه وکړونو اکثر خلك خپله نظر په ددی پوښتنی په ځواب کښې په دی ډول ښکاره کوی چه دچاپان ثقافت غربی ثقافت دی او یا چاپان دغربی ثقافت تقلید کوی . اویا دچاپان ثقافت د غربی او شرقی ثقافت څخه یو مخلوط شی دی سره د دی چه دچاپان ثقافت سوچه ځانته مستقل ثقافت دی .

همدغه شان دروس امپراطوری ته به ارو پایانو دبطرس اکبر دوخته پوری اسیائی امپراطوری ویله لیکن هر کله چه بطرس اکبر نوی سیاست شروع کړ اوابطرس برګ ښارئی ودان کړ نوبیابه ئی ویل چه اسیائی روس په غربی مدنیت پسی روان شواو هر کله چه روس خپلو اصلاحاتو ته متوجه شواوخپل اصلاحات ئی دیوی اندازی پوری تکمیل کړل نودوی به ویل چه دا د غربی ثقافت مرسته او فائده ده او دوی زمونږ دثقافت څخه استفاده کوی ،لیکن هر کله چه په ۱۹۱۷ کښې د روس پخوانی امپراطوری ولاړه او دغه امپراطوری دسرولښکر وپه لاس ورغله نو اروپایانو به ویل چه دروس امپراطوری دغربیت څخه جلاشوه او بیرته سر دوباره په شرقیت کښې داخله شوه او هرکله چه دغی امپراطوری په خپلو اصلاحاتو کښې ترقی وکړه اودوی دهغوی نظریات او مطبوعاب ولوستل نودوی به ویل چه دایو داسی غربی مملکت دی چه په رګو نو کښې لږ دشمالی قام وینه ګرځی .

په لویو ښارونو اواکثر وممالکو کښې لکه هند اوچین اومصر و غیره شو ښه او ښکلی نظیف شیان اومهذب خلك په غربی اواروپائی نوم یادیږی . اوکوم خلك چه په خپل ملی وضعیت وی هغوی ته شرقیان وائی؛ اوکه سیاح یوملك ته ولاړ شی اوپه هغې کښې نوی ښکلی ودانی ووینی نوبی اختیاره ئی د خولې نه داخبره وخیږی چه فلانی ښار اویا ځای په غربی اواروپائی ډول ودان شوی دی . اوکه یوسیاح چاپان ته ولاړشی او دهغوی ددغه نوی ثقافت او مدنیت ننداره وکړی او بیرته خپل ملك ته راشی نوهغه خپلو دوستانو اوملګرو ته هم دا توصیه کوی چه چاپان ډېر دسیل او ننداری مملکت دی اویو ځل کتل ئی لازم دی اوډېرلوړ شرقی متمدن مملکت دی سره د دی چه دهغوی د خوراك

ځکاك اوژوندون اکثر دودونه په غربی ډول تبدیل شوی اودشرقیت رنګ یکښې ډیر لږ پاته دی . او که په یووطن کښې څوك یوه ښه ودانی اویایوښکلی ځای جوړا وودان کړی نوخلك دافتخار په ډول وائي چه دابلکل اروپائی ځای دی .

مونږ په دی مطلب نه پوهیږو چه دشرقیت اوغربیت معنی اومطلب څه دی ؟ آیادشرقیت معنی داده چه دچا کالی اوودانی اوعادات اودودونه اوخوراك ځکاك اونظافت قواعد اواخلاق دغربیانو په شان نه وی نوهغوی ته به شرقیان ویل کیږی؟ اوچه دچادغه پورته ټول شیان دغربیانو پشانته وی نوهغوی ته به غربیان ویل کیږی؟ نو که مونږ دوخت دتقاضا سره سم دخپل ژوندون اصلاحاتو ته غربیت ووایو نومونږ به دآشور اوبابل اوفینیقی دوروجدا واصلاحاتو ته شرقی وایو که غربی؟؟

دشرقیت اوغربیت دهغې معنی په قرار چه په دی وخت کښې په خلکو کښې معروفه ده ؛ مونږ به دامریکی دسرو هندوانو اودامریکی داصلي استو ګنو خلکو ثقافت په کوم نوم یادوو ، په شرقی او که په غربی ؟ ثقافت دبشریواجتماعي حق دی اودا عمومی حق په چاپوری اختصاص نه لری اوپه دی خبره کښې هم شك نشته چه ثقافتونه ټول دیوبل سره ګډاوګلوط شویدی. اوتوری اولغات دثقافت دحمل اونقل دپاره داسی دی لکه چه دا جناسو دپاره موټرونه وغیره . اولغات ټول دیوبل سره ګډاو ګلوط دی . مثلاً تش په غربی ژبه کښې تقریباً دری زره یونانی اورومانوی لغات ګډ اوګلوط دی . مونږ دثقافت په ټولو وسائلو کافی اوپوره بحث نشو کولی لیکن دمثال په ډول صرف دومره ویلی شوچه دکاغذیانه دچینیانواوارقام دهندیانواو کتابت دمصریانو اوفینیقیانو اوطباعت دالمانیانو اودخوراك پنجه دایطالویانواوبخاردانګلیسانواوبرق دامریکایانو اوتلګراف بی سیم دایطالویانو اختراع ده . او که دثقافتونو ګډون اوامتزاج پخوا احتمالی و نو نن خو دغه امتزاج حتمی اویقینی دی .

که مونږ نن دیو ساعت دپاره دنورو شیانو څخه صرف نظرو کړو اوصرف رادیو اوسینماد نظرلاندی ونیسو نومونږ ته به داخبره ښکاره او معلومه شی چه دشرقی او غربی ثقافت خبره دیوی افسانی په شان بی حقیقته خبره ده خصوصاً په دی وخت کښې چه نن اجنبی لغات دمکتوبونو په ذریعه په دنیا کښې خپریږی اودرادیو په ذریعه علمی اوادبی ، فنی ، اجتماعی اوسیاسی اوموسیقی مضامین دیوملك نه بل ملك ته خپریږی .

اګر که په رادیو اوسینما کښې ډیر داراز شیان هم وی چه هغه دځینو قامونو اوخلکو دذوق او ملی حشمت اوعنعناتو سره سره نه خوری لیکن سره ددی هم دغه شیان دشلمې پیړی ثقافت بلل کیږی ، اوهم دغه شی دقامونو دژوندون اصلی تابلو اوحقیقی نمونه ده . اوپه دغه شیانو کښې ډیر داراز شیان هم وی چه دچا دطبیعت اوذوق سره سم اودچا دذوق سره مخالف وی لیکن سره ددی په دی کښې ځینی علمی او فنی اواخلاقی لوړ مضامین هم وی اوپه هغی کښې ډیر داراز شیان وی چه دهغی څخه انسان ته دنورو قامونو دروزنی اوقومی ، عصری ژوندون حال معلومیږی اودنوواختراعاتو اوفنونو څخه خبریږی . اوددی قوی عواملو په سیوری کښې یو داراز ثقافت پیدا کیږی چه هغی ته شرقی اوغربی ویل څه معنی نه لری . که دکتابونو دمطالعی اودرادیو اوسینما داستفادو په مینځ کښې مقایسه وشی نو انسان به دی نتیجی ته ورسیږی چه دکتابونو مطالعه یو نظری شی دی اودمجلاتو اوجرایدو واورادیو اوسینما کتل اواورویدل یو عملی شی دی ځکه چه کتابونه عمومی لیارښې اودغه نورشیان دموجوده وخت دضرورت دتقاضا مطابق مخصوصه لیارخلکو ته ورښې ، لمړی شی دیورسم اودوهم دیوی ودانی مثال لری .

اوسره ددی چه زه داعقیده لرم چه هرقام ځانته په خپل ثقافت کښې مخصوص رنګ اوممیزات لری لیکن دا شم ویلی چه داغربی ثقافت دی اوداشرقی ثقافت دی اولکه څه رنګه چه دراز رازنباتاتو اومختلفو حیواناتو دیو ځای کیدلو څخه خوږی ، خوږی اوښکلی ، ښکلی میوی اوقوی اوتندرست حیوانات پیدا کیږی همدغه شان دقامونو داجتماعی ژوندون دامتزاج څخه دیوقام

« نور په ۸ مخ »

خلقی ضعف او اغیزه ئی پر اجتماعی ژوند

(٤)

دښاغلی واسعی ترجمه له الهلاله

پر خلق دتربیت اغیزه :

دمخه وویل شوه چه په جامعه کښې هر فرد سم دخپل حالت او سویې سره دخلقی ذوق او په دغه ذوق دشعور او احساس یوه برخه اخلی اوداهم معلومه او ښکاره ده چه دافرادو داخلاقی ذوق اوشعور دبرخی په اندازه سره ټولنې او جامعې چه دهغو افرادو څخه ئې تشکیل موندلی وی دقوت او ملی استحکام او سعادت لرونکی وی .

هو ! یوملت چه صانع ، او کښتگر ، قاضی ، معلم ، عالم ، عسکری ، حاکم ، اوپه آخر کښې ئې هرفرد دخپل واجب او وظیفی مراعات په هر شق کښې کوی اوسربیره پر دې ئې دافرادو څخه هرفرد تعاون اویو پربل درحم اوپیرز وینی دقانون او واجب څخه ځان نه سپموی آیا دغه ملت قوی او غښتلی او مستحکمه او نیکمرغه ندی ؟ . . . .

مگر دې مقصد ته چه په ملتونو کښې داسی کسان دپر کړای شی چه دخپلو واجباتو ترعهدی واوزی او خلقی شعورئی قوی وی پر کمه لارسړی ورشی او څه شی سړی ددې غرض په موندلو سره کامیاب کولای شی ؟

زما په خیال ددې چاره چه مونږ په خپل واجب دشعور احساس تېره ، اوخپل خلقی ذوق واضح اوهغه وجدانی لمبه چه دهغی پذریعه دژوند په تورو اوتاریکو لیارو کښې روان یو ښه روښانه کړو داده چه مونږ دخپلی عمومی تربیې اصلاح چه دټولنی ژوندون اواجتماعی حیات په هره ناحیه کښې لیدل کیږی داسی اصلاح شی چه زمونږ خلقی ذوق اوشعور ژوندی اوتازه ؤ روښانه کړی .

مثلاً په کوراو کاله کښې باید کوچنی ته دلمړی ورځی څخه دمورؤ پلاردخوا دواجباتو اووظائفو په شاؤخوا کښې وخت پروخت تلقین وشی او دخپل کچنی په غوږ کښې همیشه دواجباتو دپر ځای کولو اهمیت ورکو اوتل ئی کوښښ داوی چه کچنی دواجباتو دپر ځای کولو یوممثل اونماینده میدان ته راوباسی . همدغه دول په مکتب او مدرسه کښې باید هلك ته په تلمیذی محیط کښې دواجب پرشعور تمرین ورکړه شی اوداپکښې راسخه شی چه دواجب ترسیطری اوحکم انسان هیڅ کله وتلای نشی .

په رسمی چارو اودعمومی مفاد په چوکی کښې ناستو کسانو ته هم باید په دغه موقع کښې دواجباتو اهمیت ترغوږه شی بلکه پرلیاره باید یوبیدار پولیس دخپلی وظیفی دپر ځای کولو پرموقع مونږ دخپلو واجباتو

« پاته د ۷ مخ »

په اجتماعی ژوندون کښې هم یوراز نهضت پیدا کیږی تگ راتگ اواقتصادی عوامل قامونه دیوبل سره یو ځای کوی اوهم دغه شان ددی عواملو په سیوری کښې ثقافتونه هم دیوبل سره گډون اوامتزاج پیدا کوی کله کله ددی راز گډون څخه ځینی قامونه اضرار هم وینی لکه چه دامسئله لږه ډیره په ځینی ځینی وختونو کښې لیدل شویده لیکن اکثر دا کار مفید ثابتیږی اویو ثقافت بل ثقافت دجمود اور کود څخه وباسی اودیو ثقافت نه په بل ثقافت کښې نوی روح اوتازه رنگ پیدا کیږی.

آیا دشمالی افریقی نه روما اومیلان ته داو غسطین دینی سفر دثقافت دمطالعی د پاره دعلمی نهضت سبب نه واو ددغه نهضت سبب دثقافتونو اختلاط نشو ؟ آیا شیشرون اغریقی ثقافت په اثینیا کښې زده نه کړ اوروماته ئی یونه وړ ! آیامصری ثقافت په اغریقی ثقافت کښې اثر ونه کړ ، آیا داروپائي ننني ثقافت اساس دعربو اویهودیانو تراجم اوتالیفات نه دی ؟

دپوره کولو خواته چه پدغه فرصت کښې ئې زمونږ څخه تقاضا کېږي ملتفت کړي چه هغه عبارت دهغو شرطو څخه دي چه پر عمومي لیارو ئې دتردد په وخت کښې مراعات ضرور دي ، سهارنۍ او مازیګري پاڼې هم باید دجامعي دافرادو سره ددې پلوه څخه مرسته وکړي اوهمیشه دخپلو اخلاقي مضامینو په خپرونو دخلقي شعور لمبه تازه کړای شي .

دغه رنګه په مسجدونو او نوروعبادت ځایو کښې باید دواجب دشعور زمینه آماده اوداجتماعي حیات په هره جنبه کښې دخیر اوجمال مینه دجامعې دافرادو په زړه کښې وراچول کېږي . لنډه داچه جامعه باید په خپله هره قیافه اوبڼه کښې یوه داسي مدرسه وي چه دهري خواچه سړي ورته ګوري پخپلو افرادو کښې ډخلق دروزني تأکید او داخلاقي شعور استحکام او ټینګول ځني اوري .

هغه ملتونه چه هر ډول مدنیتونه اومختلف حضارتونه ئې تېر کړي دي دمعارفو تروسعت اودعلمي معلوماتو ترحاصلولو ئې اخلاقي جنبې ته ډېر زورور کړي اوخپل مدنیت او تهذیب ته ئې دخلقي شعور پراساس تمرکز ورکړي دي ، دا ځکه چه دیوه ملت دلوئۍ او عظمت لمړي بنسټ همدغه شي دي ، او دحضارت اوملي نجابت مهم اساس خلقي شعور دي ، دنوولویو اوسنیو ملتونو دتهذیب پلانونه هم ددغي نقطي څخه راشروع شوي اودوي پر هرفرد دتعلیم صبغه په هغه واضحه انداز ه لکه دخلقي تربیې صبغه چه پر معلومه ده نده څرګنده اوپه همدغه واسطه دغه ملتونه دبشري ترقۍ په لیاره کښې ترنورو ملتونو ښه وړاندي تللي دي .

نوزمونږ داخبره چه دمخه موو کړه چه په افراد و کښې دخلقي ذوق په تند ولو کښې دعمومي اوخپري تربیې دوسائلو څخه مرسته اخیسته کېږي ، دا یوه جوته اوفیصله شوي مسئله ده چه خلقي ذوق د عمل اوتطبیق په ذریعه شدت اوتیزوالي مومي . او عمل ؤ تطبیق هغه پرسړي اسانه وي چه اراده او عزم ، متانت اوکلکوالي ومومي اوهمت لوړ اوهسك وي نوله دغه جهته زماعقیده داده چه باید لمړي اوترهر څه دمخه ضعیف او سست عزیمتونه متانت اوکلکوالي و مومي اومړ اوي ارادې ژوندي کړي شي چه د خلقي معنیؤ څخه استفاده کول پراسانه شي ، اوداخلاقو په تقاضا تعمیل اوتطبیق سخت نه پرلګېږي .

زمونږ دخلقي ضعف بعضې نقطې :

اوس به ښه داوي چه مونږ دخلقي ضعف بعضي نقاط سره دهغونتیجو چه داجتماعي حیثه څخه پرمرتبېږي څرګند کړو ، داخلقي ضعف زیاتره په درو ځایو کښې ښه څرګندیږي :

اول : پخپله خو ښه او هوا پسي تله او د خپلو شهوتونو متابعت .

دوهم : تراندازي زیاته غوړژبي او تحمل کول .

دریم : دغیریت دشعورضعف .

دخپلي خوښي او هوا ، دمتابعت نخښي زیاتره په هغو کسانو کښې معلومېږي چه یو داسي مرکزیت ورله تهیه شوي وي چه دهغه سره دي کولای شي چه سم دخپلي خوښي او تمایلاتو سره که څه هم عمومي مصلحت او دنورو حقوق ضایع شي اقدامات وکړي .

نو که فرضاً دجامعي داټیپ کسان هرڅونه دهسکو صفاتو اوفاضلو اخلاقو څښتنان اود کلك عزم اوژوندي ارادې او دذکاوت خاوندان هم وي مګر چه ددوي غایه او مقصد دخپلو تمایلاتو اوهواؤ تر سره کول وي نو ټولي ښېګڼې پکښې ورکي ، اودصفاتو اوفاضله اخلاقو قیمت ئې کښته او دهغي مغشوشي روپۍ غوندي وي چه شرنګي ئې خیژي مګر ارزېدنه اوقیمت ئې بایللي وي ، دا ځکه چه خیر اوښېګڼه په هغه ځای کښې پیدا کېږي چه هلته دخیر اندېښنه اوالهام وجودمومي ، اوفضیلت هلته ښاخ اوپاڼه اوسیوري اچوي اوریښي ځغلوي چه د فضیلت خاوره اومنبت ورله موجود شي .

ترحد زیاته غوړ ژبي اوبیځایه تحمل :

دوهمه ناروغي چه په زیاتروټولنو کښې خپره ده بي ځایه تحمل اوترحد زیاته غوړژبي ده تردې حده چه ادبي شجاعت ئې ترشا کړي اوداحتساب اونصیحت

فضائل ئې ضعیف کړی دی اونزدی دی چه ورو ورو دجو امعو او ملتونو دا جتماعی حیات مانۍ څو مده ورو سته داساسه څخه اچولې اوړنګه کړی .

داسی کسان ډېر شته چه د دوست داسی پستې اونرمی وراشې کوی لکه ددښمن سره چه مقابل شوی اوخوراځینی بېرېږی اوسربېره پردی چه یوه سړی نیمګړتیاوی او نواقص ورمعلومه وی او باید اخطار پرورکړه شی مګر بیابه هم داسی وضعیت ورسره کوی لکه هېڅ یوه نقیصه اوبدی چه ئې نه وی ور معلومه اودهره حیثه څخه داحترام اودرناوی وړوی داسی کسان هم ډېر شته چه تل پر کږه لیاره روان اوقدمونه اوګامونه چپ اخلی، اونیتونه ئې کرغېړن وی مګر سره دهغه څوك څه نه ورته وائی او نه ئې تعییب کېږی ، ددې کرغېړن اوبدخلقۍ د حالت علت چه زیاتره اوقات انسان دنصیحت اواحتساب دمهمی وظیفی دپرځای کولو څخه محروموی بی ځایه غوړژبی اوناجائز تحمل دی . کله کله دځینو کسانو دا خیال وی چه دایو دفضایلو اودانسان دپاره دادب اوتهذیب د شرطونو څخه دی حقیقت دادی چه دخلقو سره مجامله داخلاقی لوړوالی یوه نوعه شمیرل کېږی اودتهذیب دصورتو څخه یوصورت دی خوپدې شرط که مجامله د یوه بد وصف اورذیل خوی دټینګېدو باعث په هغه چا کښې ونګرزی چه مجامله ورسره کېږی ، اویاددې دپاره چه څوك دځانه څخه راضی اوخوښ کړو عمومی مصلحت خراب نشی ، یادیوچاحقیقت ته تغیرنه په ور کړه شی رو رو دځان تصویر او تخیل مخالف له هغه څخه چه په حقیقت کښې دی پرهغه صورت باندی وی په نظر نه ور شی او د خپل قیمت څخه نا خبره یا ځینی ورك شی .

هو ! اغراق ستا څخه هغه وقت قبول دی چه دخپل یوه دوست ، ملګری سره ئی په غمه یاښادی کښې وکړې هغه وقت اغراق اومجامله پروانلری چه ستاپه اغراق او مجامله سره دیوه سړی داسی شی ستایل کېږی چه دهغه په ستاینه سره بل څوك نه زهیر یږی اونه ئی موقعیت ته صدمه په رسیږی لکه ته چه دچاد کالو اولباس تعریف ډېر ورته ورکړې اودریشی ئې ډېره وستائې چه خورافوق العاده ښه جوړه شوی اوټوټه ئې ډېره اعلی ده . دانوعه مجامله اواغراق چه عمومی اومشترك ذوق نه په مجروح کېږی څه باك نلری مګر داسی مجامله اواغراق په هیڅ صورت نه در څخه قبلېږی نه دادب اونه د تهذیب یا تحمل پنامه اونه په بل عنوان چه تاته دیوه سړی په شلو بدخویونه اور ذیل اوصاف در معلوم وی اوتامجامله اواغراق ورسره را اخستی وی .

ماته خپل یو ملګری معلوم دی چه ډېر متدین اودسپېڅلی زړه څښتن دی، ددی ملګری می دا عادت دی چه دداسی سړی احترام اودرناوی به وکړی چه په زړه کښې به ئې دی پخپله هم د درناوی طرفدار نه وی یووقت مې په زړه کښې راو ګرزېده چه ددې خپل دوست څخه ددې وضعیت پوښتنه وکم ، نوچه ومی پوښته ده راته وویل : چه یوه روځ دپیغمبر صلی الله علیه واله وسلم دروازې ته دعربو دمشرانو څخه یوسردار راغی او دملاقات اجازه ئې وغوښته حضرت چه دده په راتګ خبرشو خپلو چاپېریانو ته ئې وفرمایل : « دخپل قومه بدورور یابد اولاد دی » مګرچه هغه سړی مجلس ته راغی اوکښېناست رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې په مخ کښې خوشالی وکړه اوتندی مبارك ئې ورته ورین کړ، سړی چه دحضوره څخه رخصت شو او ولاړ حضرت ته عرض وکړ چه : « یارسول الله (ص) دسړی په راتګ چه خبر شوی هغه دی وویل چه دخپل قوم بدورور یابد زوی دی اوپه مجلس کښې دی تندی ورته ورین کړ رسول الله (ص)

ورته وویل « اي عايشې ! تا کله‌زه فحاش لیدلی یم ؟ دقیامت په ورځ خدای په حضور کښې ترټولو خلقو بدسړی هغه دی چه خلقو دی دفحاشۍ اودده دبدی خولې دجهته پرې ایښی وی » نوددغه حدیث شریف مفاد زما ملګری دلحان دپاره سند ګرزولی اودشریرو اوناوړو خلقوسره ئې مجامله لحان ته‌جائزه بللې ده .

مګر دابايد وویل شی چه زما ملګری د حدیث په فهم کښې ژور فکرندی کړی او د (رسول ص) په موقف اوحیثیت کښې پرسمه‌ندی تللی‌او که پرسمه تللی‌وای‌دابه ئې نه‌وای‌هېره چه‌د(رسول‌ص) دعایشې مبارکې دپوښتنی فلسفه اوعلت څه ؤ اودابه ورمعلومه شوې وای چه دهغې مقصد دپوښتنی‌څخه داؤچه بداو شریرسړی ته باید دبدی اوشرارت‌مظاهره ورښکاره کړه شی . اوبیا که زماملګری‌فکر کړی وای دابه هم نه وای لحنی پاته شوې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د زړونودراجلبولواوددینی‌دعوت‌دمؤثرولو دپاره په ښوښو وسایلو پوری لاس نیوه او علاوه پردې ټولو هغه قدسی صبغه چه ده صلی‌الله علیه وآله وسلم درلوده اودهغې په واسطه چه هغه شیان ده ته مباح اوجائزوه عامو وګړو او مونږ اوتاسې ته ندی مباح اونه اجازه‌راته شته . هو ! رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دهغه سړی په ستاینه کښې اغراق اومجامله لکه زما د ملګری چه عادت دی نده کړی او نه ئې پداسی شیانو سره چه ثابت ئې نه ورله بلل و ستایه اوزماملګری‌خودهغو کسانو سره مجامله اواغراق کوی چه د : « و یحبون ان یحمدوابما لم یفعلوا » دډلی څخه وی ، اوبل داچه حضرت (ص) خو دهغه سړی ستاینه بالکل کړی نه ده اوصرف په ورین تندی ئې خبری ورسره وکړې :

ډېرداسی کېږی چه یوسیاسی مشراو زعیم دیوه بل سیاسی سره چه مذهبی خصومت یاسیاسی اختلاف ترمیانځ سره ولری مخامخ شی مګر علاوه پرخصومت بیاهم دوی یو له بله وراشه نر مه سره کو ی اوپه خبرو کښې د مجاملی‌څخه نه وی سره وتلی‌بلکه هریو ددې کوښښ کوی چه ډېره مجامله او زښت اغراق وکړی‌نو اوس بایدز مادملګری څخه پوښتنه وشی‌چه آیاستاموقف هم‌دیوسیاسی سړی‌موقف دی‌چه اغراق اومجاملې ته‌مجبورئې؟ په ! زمادملګری اودیوه‌سیاسی د موقف ترمیانځ خورا ډېر تفاوت دی - چیر ی زما ملګری اوچیری یوسیاسی زعیم چه‌دیوه مقابل‌په‌جمال خپت شوی اوهرډول مجاملی‌اوحیلې ورله مباحی وی .

زما دملګری او ستا او دنورو زما وستا غوندی کسانو دټولو دموقف داتقاضا ده چه احتساب و کړو خطا کارته‌مخامخ‌اوپه غونډه‌خوله‌ووایوچه دا کاردی بددی اوبددی کړیدی اودښوخښتن‌ته ووایو چه‌ښه‌دی کړی پدې‌شرط چه‌مونږته دبدکار بداو دښودخښتن ښه پوره رامعلومه‌وی . داهم دلیاقت اوفوق‌العادګی دفنونو څخه یوفن‌دی چه‌سړی باید داحتساب‌اونصیحت په‌لار کښې دتندی‌اوسختی‌څخه‌په‌امان‌وی اوداخلاقی احتساب وظیفه په‌عصبانیت سره‌نه بلکه په‌سړه مینه او نرمی سره اجراء کړی .

نن‌ورځ دمجاملت‌اوغوړژبی کرغېړن خوی‌داسی عمومیت موندلی اودونه‌داسراف حدته رسېدلی دی‌چه اوس ئې‌دچارو معیارخراب کړی‌اودهرچاحقیقی قیمت او ارزښت‌نه ورکه‌ده ، زیاتره دداسی کسانو دستاینی خبرونه‌اروېده کېږی‌چه‌ددومره‌ستاینی‌لیاقت‌نلری‌اونه‌ئې هغه کسان‌چه‌ستاینه‌ئې کوی ددغو نه‌هسکو ستاینو وړبولی زیاتره‌یوعالم یایوادیب یایو پوه اودانشمندپه‌خولوکښې لوېدلی اوتر قلمونو لاندی راغلی‌وی‌ددواړوپذریعه‌ئې تعریفونه‌اوستاینی کېږی‌مګرپه‌حقیقت کښې‌به نه عالم‌پوره عالم‌اونه‌به ادیب په‌رشتیا ادیب اونه به دانشمند دزړه دانشمند وی اوپه دغه صورت‌سره‌به عمومی رأیه اوفکر تېرباسی او کله کله تاریخ ته هم خدعه ور کړی اوخطائې باسی .

(نوربیا)

پخوانی ادب :

د ملکیار سندره

ملکیار د بابا هوتك زوی د پښتو ادب یو نومیالی مېړه دی وائی چه په (۷٤۹) هجری کال د ترنك رود خورا ډك راغی ، او ددې حساس شاعر د وصل په مخ کی حایل سو نو ده هغه رود ته داسی سندره وویله :

ترنك بهیږی
زما زړگی خو

ترنك بهیږی

غاړی تر غاړی
خپل لالی غواړی

❀ ❀ ❀

که روده روده !
چه زړگی مومی

د ترنك روده !

خاوند دی وچ کا
زما خپله سوده

❀ ❀ ❀

که نیزدی نیزدی
په ویر ژړلی

نیز د بېلتون دی

زړه نیز وړی
په غم زبون دی

❀ ❀ ❀

که اوردی اوردی
د ویر نیز و نه

په زړه می اور دی

دا اور به وچ کا :
بل ډېر په زور دی

❀ ❀ ❀

نمنځنه یوسه !
چه ترنك تال کړم :

سپینی سپوږمیه !

ورته وایه !
ستا له خو لگیه

❀ ❀ ❀

که خړو ، خړو :
پاته له یار دی

اوبو سوان کړی!

بېل ملکیار دی،
سوب ئې جانان کړی،
(پته خزانه)

مخ

ښایسته لکه چه ډېر دی د جانان مخ
خو به نه وی هیڅ د حورو په داشان مخ

چه خور شید ئې وشعاع وته ذره دی
لا به کله شی ښکاره هغه تابان مخ

عشق می هسی زړه له غیره څخه صاف کړ
چه هردم ئې یکښې زه ویګم روښان مخ

په ناولی مخ دیدن د کښلیو نشی
خو چه لوند نشی د او ښو په باران مخ

زه په دا له خپلو ستر گو یم ویزاره
چه پرې نه وینم د ترکو یو زمان مخ

دا دلبردی چه می مخ وته نه گوری
گنه گوری مسلمانان د مسلمان مخ

پر کاته به سر و مال پیر محمد ور کړی
که یو ځل ورته صنم کړی نمایان مخ

پښتانه شاعران

که هر خو ، وائی نازك شاعران شعر
ولی د وی گنی معجز د رحمان شعر

سوز گداز د محبت ئې مگر زیات وو
چه سوزان ئی هسی شان کړ بیان شعر

جوړ په شعر کښې رحمان غیب اللسان دی
پدا خبر نشته هرگز د انسان شعر

تر مصراع ئې جارشه لاړ د مرغلرو
په څه تار ئې آو یخته کړ یکسان شعر

تل په شعر کښې هم سیال دخوشحال نشته
که څه درشت دی داد ده سخندان شعر

که څوك بحر مواج وائی ورته ښائی
په دیوان کښې ئې میندهشی هرشان شعر

هیڅ تر شعر د رحمان به ډېر کم نه وی
ومنصف ته د ختك خوشحا لخان شعر

لکه شعر دی دده په پښتنخوا کښې
بل به کم وی په دا وخت د افغان شعر

بیا ر نگین شعر بیان عبد القادر کړ
د اشرف دی هم تردہ نه سوزان شعر

پس له دویه مو شگاف عبدالحمید دی
چه ئې و وي ښه نازك نکته دان شعر

د مرزا شعر به جوړ و ولی دریغ
په وحشی الفاظو ده کړ ویران شعر

د مشهور و شاعرانو حال می ووې
نه وو ما و ته د نور و عیان شعر

باریك بین اره کمال د شعر ښه دی
جوهردار به ئې کړی تیغ د زبان شعر

هر بی آب په آب د شعر آبدار کیږی
هم زما ددردمن زړه دی درمان شعر

چه انصاف زه پیر محمد کړم لافی ته کړم
په هم عصر وکښې می خوښ دی دلحان شعر

(پیر محمد کاکړ)

پاخه ویل

مرحوم مخلص

رشوت خور چه څه ونه مومی هردم — ر څی کاږی و کښې خوا ته قلم
خدای دی ساتی مسلمان له هغه چا — چه دلاس کرښې ئې نېښ وی دلړم

❀ ❀ ❀

که دی هیله چه پلانی ته به ورځم — څه به را کړی لاس ئې اوږددی د کرم
صبر کړه خاوری په سر شه د سخا — پرمټ زور که منت مه وړه د حاتم

❀ ❀ ❀

کار کو لو کی تن کلك ساته مدام — چه الف قددی کوږ نشی لکه لام
هسی نه چه مستې ووینې په خوب — څو پاڅېږ ی بیا له مخه یې ز کام

❀ ❀ ❀

نا اهلان که زمانه کی د ر ښیم — خو را ډېردی گرېوان څله په څېرم
په بې شرمو چه می نه رسېږی وس — نا چاری ده خپله ږیره به خریم

❀ ❀ ❀

که ملگری شوې دبدسړی یو گام — ته به هم شې د هغه په خو ی بدنام
چه له لوړی شی پرمځکه را ارتاو — که مات نشی ازانگه خو ، ځی دجام

❀ ❀ ❀

خیانت لو مخ توری ده د هر کام — مخلص وایم دا حاصل د ی د کلا م
نه به چاته شی ورپاته د بل مال — نه اولاد به ئې ودان شی په حر ام

❀ ❀ ❀

دمشاعري سلسله :

سپین غر

(٤)

ښا غلی بېنوا

جگی جگی سا قی ر ا شه — دخو ږ من زړ گی پخوا شه
ستا له سر ه سپلنی شم — ترسرو ستر گو دی واری شم
راته خا نده راته داد کړ ه — په خپل دادبې وزلی ښاد کړه
ز ما لو ری ته ډېر ډ ېر شه — تر بې درد عالم را تېر شه

په پیاله می کړه نمنځنه — را څخه را نیسه پوهنه
چه خراب مست دیوانه شم — له جهانه بیګانه شم

سوز و ساز دمینی را کړه — لېونی عشق را عطا کړه
چه درد من سره یاری کړم — له بې درد و جدائی کړم

روح آزاد زړه می خوشحال شی — پاك له خیر وله جنجال شی
لکه موج مست می ګذر وی — طوفانونه می په سر وی

کور دظلم و ستم وران کړم — ټول اولس سره یکسان کړم
په خودۍ شمه مدهوش زه — نور جهان کړم فراموش زه

ترتاو ګرځم را پورته — ساقی مکوه ځنډ نورته
هله را کړه دتاك وینه — چه می یخه شی پری اینه

هغه تاك چه ئې رودلی — دسپین غره شبدې سپېڅلی
په سر سبز و شنو درو کی — په جاری ډکو شېلو کی

دډبر وله بېخونه — دخوږ و سپینو چینونه
چه سپین بازغوندی پرواز کړم — دسپین غره نغمه آغاز کړم

په نغمه کی می شرر را — مسیحا غوندی اثر را

چه دامړ قوم بیا ژوندی کړم — ورته هیښ خپلو پردی کړم
خلاص ئې کړمه له ذلته — دغرور له بد غفلته

لږ تکان وخوری بیدار شی — دخپل ژوند په کارو بار شی
په دې پوه شی چه ژوندون اوس — غواړی بل رنګه افسون اوس

نه خلاصېږی په وینا څوك — په مړانه دبابا څوك
لا به څو فخر په پلار کړی — یا په نوم دخپل ټبار کړی

ولاړی، ولاړی، هلا کېږی — که مغرور شو تباه کیږی

په تش نوم چه ناز ېدل وی — یا په مړو فخر کول وی
دځان غم ور سره نه وی — بدکار و نه ورته ښه وی

ترهر عیب دا عیب لوی دی — دخدای روی دی دخدای روی دی

ساقی تازه لېونی کړم — چه بې خوده دازګېروی کړم
یا څه ژر سه پیاله را کړه — مؤثره می وینا کړه

چه د دې غره په لمن کی — په دی لوی دښت ودمن کی

په آواز می زلمی را شی — بیاد سپین غره شاو خوا شی

پښتنو جرګې شی غونډی — مرکی ئې هر ځای پونډی

په یوه زړه یوه خوله شی — یو له بله سره مله شی

داخراب کور بیا ودان کړی — په دنیا کی ښکاره ځان کړی
بېله فرقه یو ملت وی — بېلتون نه‌وی ټول وحدت وی
و سپین غره ته له آسمانه — د نیکه روح شی گویانه
« د لته دی د غرو لمنی — زموږ کږ دی‌دی پکښې پلنی
داوگړی ډېر کړې خدایه
لویه‌خدایه لویه خدایه !»

❀ ❀ ❀

(٥)

ښاغلی « رښتین »

مارغه دخیال‌می په سپین غره باندې سرشاره گرځی — هوا می سرکښې نن تازه له دې کوهساره گرځی
وینم هر لورته د بلبلو شور ما شور دی پکښې — په شنو نښتر وشنه طوطیان مست له چغاره گرځی
ریز دمرغانو ئې راخیژی له هر بڼه څخه — بلبل بیهوش پکښې دمینی له خماره گرځی
دناز شمله به کړی خوشبو یه په ښه شانله دچا — نسیم دعطر و پکښې نرم خوشگواره گرځی
زلفې دچا به کړی خورې په پستو گوتو سره — زیبا نسیم ته ئې زر زړو نه طمعداره گرځی
نښتر په لوړه ننداره دمهر ویانو کوی — جونه ، ځلمی ، ښکلی ښایسته پکښې بیشماره گرځی
هوسوئې سترگی چه راپټې له خوبانو کړلی — ځکه له‌ویرې کښته پورته نا قراره گرځی
په متانت ، وقار ولاړ دی احترام کښې درب — کله په ژوند باندې له حکمه دبا داره گرځی
ستا په هوا کښې دختن نافی سپړ دلی دی چا ؟ — چه‌شنو وښو کښې دې‌شپونکی‌مست له عطاره گرځی
تارو ، تمځری ، زرکې ټولې شوی سندرو لره — په غومبر سرورته کوترې له سینگاره گرځی
مسته شپېلۍ چه په خوند راشی له شبانه سره — میدان درقص کښې، ساکښ واړه بی‌واره گرځی
زړور بازان چه دهمت وزر خواره کړی کله — ستا په اوچتو څوکو پاس له افتخاره گرځی
طبعی خروش کښې دې آرام اوڅه مدار نشته دی — خیال‌د مستۍ کله له سره د آبشاره گرځی
میوې پخی ستا دسینی چه شی کوم وختی کله — ستاپه ځنگلو کښې هره‌نجل‌مسته خونخواره گرځی
سپین او سپیڅلی غریادیږی په دنیا او جهان — ځکه چاپېره شنه زمریان ستاله دلباره گرځی
داوستا نغمې خوږې شوې ستاله خوږه نومه — دسوما بوټی څنگ په څنگ‌ستاله کناره گرځی
نه کړ پیدا چه سکندر په بل یو ځای‌کښې چری — دلی په تا کښې هغه څیز پسې‌څو واره گرځی
محمود ، شهاب ، در ته کتل نظر دمینی سره — دمینی سترگی ستا ولور ته بی اختیاره گرځی
احمد چه ته په دغه لاره ستا نظر و په ده — ستا له نظره په دنیا ځکه نامداره گرځی
چه ئې تاثیر دبیخودۍ خوږو نغمو کښې‌و ډیر — هغه ارواح ستا په هوا کښې ننگرهاره گرځی
وایه مطرب ته ! سرود نوی نغمه نوې ښایی — زړې نغمی دې چه پتنگ له سره انگاره گرځی
یوځلې غږ دبیدارۍ ورته په زوره وکړه — په دی ویدو به شپه ورځ تر څو بیکاره گرځی
له نوی رنگه ئې خبر کړه دنغمو صاحبه ! — دوی به تر کومه ناخبره له روزگاره گرځی
زړونه قوی لرو بیحده ستا دتیږو پشان — بد خواه ته وایو چه دې لیری له گلزاره گرځی
پښتون به لیری ستا له څنگه په هیڅ شانی نشی — کله مین په خپل ژوندون کښې له دلداره گرځی
تکړه ځوانان به کړی سرونه خپل له تانه قربان
رشتین مین په تورو کله له خپل یاره گرځی

مړزوانده ډېوه

ښاغلي بريان

يم‌مين گرزم پر څرو ستا — سوځم ځان تل پر لنبو ستا

❀ ❀ ❀

که‌هر څو ته مانی نی کړی — سرت‌می‌سکورهډمی‌اېری‌کړی

❀ ❀ ❀

ځان‌می‌جار ستا تر رڼا شه — ستا بلا پر ما بيا، بيا شه

❀ ❀ ❀

نيو هېږم چه نن څله — بڼه تللی ئې خجله

❀ ❀ ❀

ز ما دا کله ده پير زو — هيڅ می نده دا آرزو

❀ ❀ ❀

څه! چه وسوځې تيتر ځما — يارا گوډ کړی ته وزر زما

❀ ❀ ❀

وايه؟ څله؟ ژرمی‌پوه کړه — ژرسه پوه می په‌اندوه کړه

❀ ❀ ❀

چه دا ولی نن زهېر ئی — يا لمانه ډېر دلگير ئی

❀ ❀ ❀

پوه هيڅ نشوم پدې راز — ژر که حال را ته آغاز

❀ ❀ ❀

وايه ژرحال چه‌طواف کړم — ددې کورزه اعتکاف کړم

❀ ❀ ❀

څه‌در وسوه چه‌ملال شوې — دم‌پدم مخ پر زوال شوې

❀ ❀ ❀

رنځ له‌څه نه‌شودر پېښ نن — کم ظالم‌خوږ کړې‌په‌نېښ نن

❀ ❀ ❀

ته مدام خوله په خندا وې — خوښ به هر کله بېگا وې

❀ ❀ ❀

ته خو هر کله مغرور وې — تل په ناز او په سرور وې

❀ ❀ ❀

زما! به‌تل سرت پعذاب و. — پرما؟ تل‌ستا ډېر عتاب و.

ځما ! به‌سوی تن کباب وو بی‌صبری می وړی تاب وو

❀ ❀ ❀

ماله ! ښائی دغه حال تل چه و سو ځم یم ملال تل

❀ ❀ ❀

ته‌حال ژر کړه خپل بیان پوه می کړه په دغه آن

❀ ❀ ❀

ډیوی لږ له خجالته ستر گی پورته کړی او چته

❀ ❀ ❀

ویل نعمت لره زوال شته هر مغرور لره بد حال شته

❀ ❀ ❀

د صبا غوندی فیض منه زه زهیر شو مه خوږ منه

❀ ❀ ❀

زما ! د کبر دا سزا ده ما پر ځان کړې جفا ده

❀ ❀ ❀

ستا گله ولی له اوره ؟ ده ځان سو ځې ته پزوره

❀ ❀ ❀

دا تهمت ستا دی بیځایه لږ تمیز کړه ای نیك رایه

❀ ❀ ❀

تل بی صبره کړېدلې ځکه ما نو ته سو ځلې

❀ ❀ ❀

اوس زما حال دذلت گوره کبر هیڅ ونکړی ورو ره

❀ ❀ ❀

کړه ما کبر پدې حال شوم ژوندمی خوار څرنگ ملال شوم

❀ ❀ ❀

بل نړۍ لره دا کار دی چه باد اروی سباخوار دی

❀ ❀ ❀

څوك په‌اور کباب بریان کړی پرچا گډ سیلۍ خزان کړی

❀ ❀ ❀

چاله تورداغ دځیگر ږدی چا له جام هله دزر ږدی

❀ ❀ ❀

یو بندی تل دزندان کړی دبل ځای دښت بیابان کړی

❀ ❀ ❀

بل ارون کړی غره کینل ته څوك مائل کړی خپل وژل ته

❀ ❀ ❀

په‌چا څه څه‌هم په‌چا کړی څوك ژر ټیت څوك ژر بالا کړی

❀ ❀ ❀

زما دمرگ وروستۍ سکلۍ ده شو صبا سپینه وږمی ده

❀ ❀ ❀

پتڼ پاته هك اریان شو محروم پاته زړه بریان شو

زما لمړی شعر

ښاغلی سید بهاء الدین خان
د استقلال د ښو و نځی متعلم

سمندر مې پخپل او ښکو نمکین کړ
ټول عالم مې په ژړا ژړا غمگین کړ

کناري مې داسمان په وینو سرې کړی
دا جهان مې په خوناب دزړه رنگین کړ

چه دخیال عقاب مې جگ پرواز بنا کړ
لوړ اسمان مې ځانته لا دقهره شین کړ

که هر څو آه وفریاد کړ مظلو مانو
دفلك بوډۍ پری تر یو لا خپل جبین کړ

هیڅ روا نه زما بنده بېړۍ نشوه
که هر څو مې ورته جوړ داو ښکو سین کړ

اورد مینی ئی په زړه باندی بلېږی
همدغه اورد عاشق آه آتشین کړ

غزل

ښاغلی رافتی

نه پوهېږم څه لیدلی دی دلبر
خدای په پارمی کله نه اخلی خبر

خدای پوهېږی زه پرده داسی شیدایم
ټوله ځان نه زه ورتېر یم هم ترسر

په سوداکی دی دعشق هر کله ډوب یم
پیوسته یم پریشان او خاك بسر

ده و ځانته دلیلی عادت نیولی
دمجنون په شان ئې زه کړم در په در

دومره دازاری چه زمانه ورته کېږی
پر ما نه کا یو نگاه دی پر اثر

صبر نکړم زما بهتره داژړا ده
نه چه صبر نه ور پیښ شی یو ضرر

صبر نشته (رافتی) ته پس له دی نه
که و نکړی پر ما باندی یو نظر

ټپله

ښاغلی سید حسین خان «سید»

زما پر زړه باندی پرته دار مان ټپله
چه دی نه لویږی دچاپر گریوان ټپله

په هر بڼ کښې دپسرلی گلان ښه اېسی
نابېره پر ښکاره کړی خزان ټپله

توری ټپلی هر ځای نخښی دتو پك دی
خدایه مکړی هر شریف د نښان ټپله

په هر ځای کښې اصیل «در» غواړی ساتنه
بې ساتنی ئی ور کښته کړی شان ټپله

میاشت دتندری په اثر توره ټکۍ شی
چه پر لویږی دنړۍ ددوران ټپله

د مین د عاشقۍ ژړا ده ډېره
چه ئی جوړه شی پرمخ دهجران ټپله

که د چاوی پر د نیا سل کاله عمر
مرگ ئې فخر دی دژوند تر یو آن ټپله

هر فلز پر تور محك ژر معلو میږی
چه له منځ ئې کړی ښکاره، زرگران ټپله

حرص ښانك دتور وزر نځو ډك په لاس کښې
نه وړل کیږی اچوی پر انسان ټپله

(طلوع افغان)



اعلیحضرت همایونی درسم گذشت به ورخ خیل شاهانه
عسکر ملاحظه کوی



اعلیحضرت همایونی دعسکری رسم گذشت به ورخ

له گلوسره

الفونس کار دفرانسې د نونسمې پېړۍ دمشهور و ادباؤ څخه دی، اود گلوسره دده خورا ښې شعری ټو ټې دی، چه دلته ئې لمړی ټو ټه تر جمه کو و

د ښاغلی «سیفی» ترجمه

(۱)

اې زما هیلو او اې زما پېغلو آرزو گانو ! تاسو دپسرلی دسهار په خوږه وزمه کښې پټیو ته واوزی ، اودپسرلی سره گلونه اوښکلې تحفه وشکوی ! اې زمانازولې پېغلی ته دپسرلی ښکلې هدیه او لمړی گل وشکوه اودخپلی ښکلی سینې دپاسه ئې وتومبه ځکه چه دادنیك مرغی اوسعادت هغه طلسم دی چه عزم تینگوی او دانسان په زړه کښې هیلې او آرزو گانې ژوندی کوی .

دښفشې او گلابو گلونه دپسرلی لمړی گلان نه دی ، بلکه داهغه گلان دی چه دانسان ستر گی ئې دنورو گلا نو څخه مخکښې او لمړی وینی ، او یا دخوشحالۍ هغه هدیه ده چه طبیعت ئې دژمی داوښکو څخه بز گرته وړاندی کوی .

په تېر پسرلی کښې دگلاب گل لمړی گل وچه ماته ئې دپسرلی دراتلو زیری اوخبر را کړ ؛ او په سږ پسرلی کښې دښفشی گل هغه لمړی گل او لمړی استازی و چه زما زړه ته ئې دژوندون زیری راووړ ، اوداچاته معلومه ده چه تردی وروسته به لمړی گل کوم وی ، ښائې چه دقبرونو گل به وی !

ای دپسرلی گلانو، تاسو ترمرگ وروسته دژوندون زیری ترنا امیندۍ وروسته دامید زیری یاست . ته لمړی دپسرلی هغه گل یې چه څوك تاته دشکولو په نیت لاس در او زدوی نوستا دهیبته ریږدی ، او کومی ستر گی چه ستا ښکلې شکل وینی په هغو کښې خوشحالی اویو مخصوص کیف پیدا کیږی .

ای دپسرلی لمړیو گلانو څوك چه تاسو ته گوری نو هغه ته دامعلو میږی او په دی پوهیږی چه دغمجنو زړونو تېره خوشحالۍ بېرته راغله ؛ اود گلا نو دتوپل ځلاندوالماسو پخیله رڼا تیاره زړونه رو ښانه کړ ه اود هغو په شنواوتاندو پانو دژمی مړاوی زړونه تازه شول .

ای دپسرلی گله ! ته یوه هیله اوامیدیې، ته دگمان هغه خندا یې ، چه په مونږ دامنی چه رژېدلی هډو نه په بېرته ژوندی او ددنیا تیرو ارونه او تیرې شو ی پېړۍ به بېرته راشی .

دپسرلی لمړی گلان داسی مثال لری لکه چه دوی په گلونو اومیاشتو کښې اخترونه وی اویادزما نې په سینه باندی دافتخار ځلاند نښانونه ، ځکه چه ددوی په راښکاره کېدلو دانسان دزړه څخه ټول پخوانی غمونه ورك اودزړه ټول غمونه په تېروشوو ورځو شپو کښې نغښتلی ولاړ شی .

او دانسان غمجن زړه ستا په خوږه وزمه نوی ژوندون پیدا کړی ، اوته داسی قوه لرې چه دهغې په سیوری کښې مړه بوټی بېرته را ژوندی کړی ، او دژوندون نوی کالی په واغوندې لیکن په کوم وخت کښې چه ستا اقتدار دمنی دلښکرو په مقابل کښې مغلوب شی نوستا دلاس روغه کړی ښکلی تابلو بالکل په بل رنگ کړی اودمنی بادونه ستا په دغه پالل شوی مخلوق داسی لوبی وکړی چه دځمکی په مخ ئې بالکل نخښه پاته نشی .

ای دپسرلی ښکلیه گله ! څنگه اغلی یې دخلکو په زړونو کښې خومره خوږ او په زړونو باندی څه رنگه حکم او اقتدار لری ، ستادسمسور باغ او گوروبنونو نندارې ته دژوندون دو زرو خاوندان را ټو لیږی اوستا دحسن څخه گېرچا پېره کړیږی اوستا دستاینی اوهر کلی بدلی او ترانی وائی .

لیکن زمانی دډېرو نندار چیانو وزرونه مات او دهمیشه دپاره ئې دقبر په پنجره کښې بنداوستادهر کلی اوسترمشی څخه ئې محروم کړی دی .

ای دپسرلی گله ! ته زما په خیال یو داسی بی بقاء شی لکه دیوه زړه شعور او احساسات اولکه چه هغوی په زړونو کښې ډېره بقاء نلری ، ستاوجود هم دځمکی په مخ ډېر دوام نشی کولی .

ای دپسرلی ښکلیه گله زه ستا هغو شنو پانو اوهغی

« نور په ۲۲ مخ کښې »

ساعت یازده

د ښاغلی «اریزوی» ترجمه

چه هری خو اته لحم ، یو ساعت په خپل څنګ کښې لرم ، چه وخت را ته په صحیح ډول ښئی . داساعت یو ډېرلوی اوپوه حکیم صانع جوړ کړی دی .

څو ورځی مې داخیال درلودچه لحماددی ساعت رفتار ګړندی اوتیز شی . او کله کله به می دا آرزو اوهیله کوله چه دی خپل رفتارسست او ورو کړی . لیکن په غم اوخوشحالی ، په سکون اوطوفان اودژوندون په تولوحوادثو کښې یوشان چلیږی اوحرکت کوی .

داساعت په هغه وخت کښې چه زما دپلار تابوت وړل کېده اولحما دوستان په قبرکښې ایښودل کېده هم په همدغه شان ګرزېدلی دی ، دعشق په سیاوون کښې او د ازدواج په محراب کښې هم دده اوازندی غلی شوی .

داساعت د کو چنیتوب په لحانګو کښې هم ندی چپ شوی ، او که خدای کول تر څو چه لحما روح آرزو لری دی به په حرکت کښې وی او دده په حرکت کښې به هیڅ خلل رانشی کوم وخت که دده په ګردش کښې خلل راغلی اودده حرکت ته کومه سکته پېښه شوېده یاورته په خپل لحان کښې دحرکت توان کم ښکاره شویدی ؛ په دغه صورت کښې پاك خدای ده ته بیرته یو داراز قوت ورکړی دی چه په خپل اصلی حرکت راغلی اوهغه نقصان ئی رفع شوی دی .

لیکن که دغه ساعت یولحل ودرېده ، نوپوه شه چه ددې ساعت وظیفه ختم شوه اوپه دغه وخت کښې بی دپاك خدای دقدرت دلاس نه بل هیڅ یولاس دغه دریدلی ساعت دوباره په حرکت نشی راوستلی . که لحمادزړه ساعت دحرکت څخه ولوید او چپ شو ، نوپه دغه وخت کښې باید زه دخپل خالق خواته سفروکړم اوپه ډېرعجز اوطفلا نه نیاز اوډېر احترام دغه ساعت دهغه لوړحضورته تقدیم کړم اودا و وایم :

ای لویه خدایه ! دغه دی وئی ګوره ، مادې ساعت ته هیڅ نقصان ندی رسولی . بلکه پخپله دریدلی اوچپ شویدی .

« جبریل زیبل »

ماشوم او مرګ

زړګیه ! راځه چه زه تاله لحان سره بوزم اودخپلو وړومرغیو اوښایسته ګلانوبدلې درته ووایم هغوی هیله لری چه تاسره ستایه دی لمړی سفر کښې ستادلیاری ملګری شی .

دی خواته وګوره !! ستر ګې را واړوه لیکن ای ګرانه کچنیه ! ستا نازکې ستر ګې لا تراوسه دخوبه ډکی دی . . . . زه تاته هرڅه وایم :

غوږ ورته کښېږده . مونږ په یوه لویه ور شو اویوداسی پټی کښې سفرکووچه هغه پاك خدای په خپل قدرت پیدا کړی اودستورودانی ئی پکښې کرلی اوشیندلی دی .

غوږ کښېږده . . . ته څه رنګه په درانه خوب ویده ئې واوره . زمونږغوږوته یوخوږ اواز راځی مونږ ستا خوندوته نزدی کېږو . هغوی هم ستایه شان ناروغه وې اومایه ډېرآرام او سکون دابدلې هغوی ته ویلی وی ، هو ! ماهغوی ته زرکاله وړاندی لکه پرون دابدلې اورولی دی . « ګوستاف شیلولر » .

« پاته د ۲۱ مخ »

خوږی وږمی ته سلام کوم چه دعاشقانو اوشاعرانو په زړونو کښې نوی روح اودغمجنو اوارمانجنو په زړونو کښې امیدواری اوخوشحالی پیدا کوی که ستایه وهم کښې لحنی تکلیفونه وی نو په دی خبره کښې شك نشته چه په دغه تکلیفونو کښې غټ اومهم اسرار هم پټ پراته دی ، مثلاً ستا یوشکول زاړه زړونه لحلمی کوې ، اوبوری ته دمورولی نندارہ ښکاره کوی اویتیم ته دخپلې یتیمی تسلی ورکوی . اوستاتنکی شنې پاڼی انسان ته دا حقیقت ورښکاره کوی چه د انسانی ټولنی څخه لحینی دوستان اوخپلوان دخپل ژوندون پسرلی ترسره کوی اودمرګ منګول ئی دژوندون دتازه ډاندی څخه دهمیشه دپاره شکوی اوتر خاورو ئی لاندی کوی . ای دپسرلی ګله په تادی سلام وی ، ماستادښکلی وجود څخه ډېرغوره معلومات لاسته راوستل ؛

ماستایه سیوری کښې خپل لحان وموندا وزه تادخپل لحان دپاره شکوم چه تاشکوم ماته هغه وخت راپه یاد ېږی ، چه ته می دبېلېدونکو دوستانو سره شکولی وی ! ! . . . .

د «بانوژاله» له آثارو څخه:

د ګلوونه

د ښاغلي «نظامي» ترجمه

دهغې ورځې څخه تر اوسه ډېر ګلونه تېر شوه زه کوچنی وم، منګر په ډېره خوشحالۍ او آرامۍ مې ساعت تېراوه، زما وړوکی اوماشوم زړه دغم داغ لېدلی نه و، او زما ښکلی او سپېڅلی خاطر د کدورت په زنګ آلوده شوی نه و.

د ځوانۍ سوز و ګداز زما دصبر په درمن او دآرزو په خونه اورنه ولګولی.

هلك توب اوبی فکری، ښادی، هېرتیا، تقوی اوطهارت توام دی کوچنیان لکه وړوکی پرښتې دی چه پخپله پاکه موسکتیا زمونږ په مخ کښې دآسمان ور خلاصوی اودوی داسی ساده اودنشاطه ډك دی چه دغم په معنی اودرنج په مفهوم نه پوهیږی. اوښکی تویوی. خندا کوی اوبیایې ژرهیروی.

هو! هېر ډېر ښه شی دی.

مترلینګ وائی «مونږ په هغه وخت کښې دژوند لذت اخلو چه داهېر کړو چه مونږ ژوندی یو» هلك وم دګلو یوه ونه می درلوده، اوداونه په هر پسرلی شنه کېده، اوزما دپاره به ئې ښه ښه ښکلی او سره سره ګلونه نیول، زه په هغه زمانه کښې د ګلو دونې څخه کوچنی اوتیټوم اوپه ډېر ښه شان موکولی شو چه هره ورځ په ډېره خوشحالی ددی له شنو ښاخونو لاندی کښینم، اوددی دتاندو اوتازه پاڼوسره لوبې وکړم!

هېڅوخت ددی له ښکلو ګلونوسره مالاس نه لګاوه ځکه زه په دې فکر کښې وم چه هره شپه زمادونی نندارې ته پرښتې راځی اودخپلو سپینو وزرونو په حرکت هغه ګلونه چه نوی غوړیدلی دی خپروی، اوبیاځی.

په دې مناسبت دغه آسمانی تحفی زما په نظر کښې عزیزې وی، منګر پرښتې هم زمادونی پر ګلونو مینې وی، ځکه دشپې په پای کښې به چه دوی غوښتل چه زما دګلو دونی څخه ولاړی شی په دغه وخت کښې به دوی خوځلانده اوښکی توئې اوتارکړی اوبیا به ئې په ډېره آرامۍ دآسمان خواته پرواز کاوه.

ما به دهغو ځلاندو اوشفافو اوښکو اودهغو درخشانو خاڅکو ننداره هرسبا دخپلی ونی پر ګلونو کوله.

آیا هغه محبوبی ونی ماسره هم مینه درلوده؟

کشکې ژبه ئې درلودای اوخپل پټ احساسات ئې ماته ښکاره کړی وای کشکې په خبره پوهیدلی اوهغی ته مې ویلی وای، چه خونه ستاسره مینه او محبت لرم!

اما نه، لازم نه دی!

پوهیده اوښه پوهیده، معنوی احساسات او پټ سپېڅلی عواطف ددېنه لوړدی، چه دنیازمنو په خوله او په وینا کښې وی.

ګلونه اوهلکتوب تیرشو، ځوانی ددېری آرزو سره راورسیده، زما افکار اواحساسات یې بل شان کړه!

اوس هم دسبائی خندا، دبهار جلوه، د طبیعت ښکلیتوب وینم، منګر په بله سترګه، زما د کچنیتوب خوازه تخیلات دځوانۍ په سوځونکی آرزوالیش شوه د کچنیتوب دوران می هېر کړ، یوازی هغه مینه چه دخپلې ونی په نسبت می لرله پاته ده.

مینه او محبت د ورځو او ګلونو په څېر له مینځه نه وځی، ځکه ډېری شپې به مې د سپوږمۍ په زړه وړونکی رڼا کښې ددی ونی د تاندو او تازه ګلونو ننداره کوله اوخوند به مې ځنی اخسته اوډېر وختونه می دخپل زړه رازونه یوازی ددی په غوږ کښې ویل:

پرون چه کورته راغلمه ومی لیدل چه زما دګل ونې خپل سر په ځمکه ایښی دی. پسرلی اومړاویتوب، ځوانی اونا کامۍ خونه دشواردی، ومې غوښتل چه خپل سر دده دګلانو په ډکه لمن کښې کښېږدم، اویو څو څاڅکی ځلاندی اوښکی دده په بارخوګانو توئې کړم، منګر له لاسه مې ونشوه اوطاقت مې نه درلوده!

بی رحمه باغوان زماسترګې لری ولیدی، اوزما دګلو دونې نیلې او زما دامیند رشته ئې قطع کړه!



د خوب تحلیل

د خوب لپدلو پر سببو پوهانو ډېرې څېړنې کړې او رنګ رنګ افکارونه له قدیمه پر ښکاره کړې دي دا لاندې مضمون هم پردغه علمي موضوع دیوه پوه لیکونکي رایه ده چه موږ ئې د یوې نظریې په ډول نشر کوو .

ښاغلي محمد رسول خان قندهاري

دتیرې میاشتې په مجله کښې مو یومضمون دخوب په خصوص کښې ولوست ځمایه فکر دایوه موضوع وه چه تراوسه نده تحلیل شوې، ځکه داموضوع دوې خواوې لري هغه خوائې چه دبدن په تکنیکي اوشیمي وضعیت یعنی ماده پورې اړه لري خه پکښې ویل کېږي اوهغه خوائې چه دروح دپلوه دراتلونکو واقعاتو سره نښلول کېږي په هغه کښې ډېرځله چاچه خه ویلی دی عندي اوتوجیهي ښکاري ولی دموضوع دا اړخ په روحي حرکاتو پورې اړه لري نوځرنګه چه روح ندي پېژندل شوي حرکات ئې هم پوره نه پېژندل کېږي همدغه سبب دی چه ساینس والاددغه پلوه خخه انکار کړیدی (تاندیدند حقیقت ره افسانه زدند) نو دا خرګنده خبره ده چه هراظهار یا انکار دمنلو وړندي اوهر څوك هغه وائي چه په ځان کښې ئې وینې بناپردې اساس زماهم زړه غوښته چه پدي خصوص کښې خیله شخصي نظریه عرض کړم او تر هر څه وړاندې لږاوډېر دروح په شاوخوا کښې وږغېږم بیانوپه اصل مطلب پېل و کړم .

الله تعالی په قرآن شریف کښې فرمائي : چه ما وانسان ته دغونه علم ندي ورکړي چه روح وپېژني اوس دپاره ددي چه ښه تراشك وتردید پدې لاره کښې وسوزي که ماکولاي شوای چه دهره پلوه وږغېدای شوای ښائي چه ساینس والا به هم غوږ ورته نیولای وای مګر اوس به په دغونه قدرسره اکتفا وکړو چه دشناخته دایرې څخه نه یووتلي دامنلې خبره ده چه بدن (اوزار) دروح دي نو حرکات پخپله دروح څخه صادر ېږي مګر روح مجرد اودا صلي مقتضا سره ئې خه ګډنه دي داتردیدات چه په ژوند کښې پېښېږي دوه ډوله لري اول تغیر داوزاردي چه هره عضوه فاني کېږي دتصرف یوه آله کېږي اصل عامل چه روح دي هغه پرخپل حال پاته کېږي (حتی که دتجدد امثال نظریه صحت ولري ښائي ډېرځله تغیرات په کارو کي سبب به ئې تغیر، اوتجدید داوزاروي) روح نسبتاً پخوانی دي هغه وخت اوزار جسم نه وتصرفات ئې ندي کړي اوخه وخت چه دجسم سره یوځای شودیوې مجردي مقتضا سره راغي (چه هغه علیحده بحث دي) نوزمونږ هم دهغه وخت خه پیادنه دي غرض دادي چه یوه برخه دانسان دحرکاتو په اوزار پورې اړه لري چه دمادي وضعیت ته ئې رجع کوله کېږي ، اوبله برخه ئې په روح پورې اړه لري چه په هغه کښې به نو بحث وکړو .

(۱) روح قدیم نه دي ولی که چیرې په روح کښې استعداد دقدامت وای دځان دپاره به ئې داسي اوزار جوړ کړي وای چه دده دتولو آرزوګانو دپاره به ئې ظرفیت درلودای، اواوس داظرفیت نه لري مثلا غواړي یوې

خواته ولاړشي یاجرئت په یوه کار کښې وکړي یانور څه خو اهش ولري زړه او پښې ملګري نه ور سره کوي ناکام پاته کېږي ، امایوازي دغونه کیدلا ی شي چه په کار وعادي شوي اوپه اثر دتلقین د نفس ، یاورزش دبدن طاقت ډېر اوقوت نسبتاً اضافه شوي وي .

(۲) روح علاوه پردغه چه په واسطه داوزارکار کوي اوداوزار دده په حرکاتو کښې دخالت لري دپاره دسرنوشت دانسان یوازنۍ نقطه داستناد اودپاره دهرډول واقعاتو دماضي اواستقبال یوه نرمه، اومستعده اوحتي پاکه لوحه ده مګرپه عین صفائي اوپه حال کښې دتجرید یوبل انفعالي استعداد هم لري چه په دغه سبب سره همیشه مورد دتعرض واقع کېږي او پده کښې مختلف رنګونه سرایت کوي په آرزوګانو کښې فرق واقع کېږي ګواکې څرنګه چه په اوزار کښې تغیر واقع کېږي روح هم مستقل حالت نه لري .

(۳) ارواح فرق سره لري ټول یو ډول ندي اوڅرنګه چه دوي په نوروشیانو کښې تصرف اوعمل کوي دوي هم دقدرت دلاس معمول دي مثال ئي داسي دي: لکه یو مجوف بلور چه په دننه کښې ډېر رنګونه لري اوپه دباندي کښې چه دلمر پلوشې ورته مخامخ شي یوډول سپین ښکاري نوڅرګنده ده که څوك ودې بلورته ددننني خواورشي هلته به ډېر رنګونه وګوري چه هریو پخپل حد کښې جدا یامختلطه لګېدلي اوپه اثر دهغه پلوشو چه دد باندي څخه ورته متوجه شوي دي دبلور په جوف به ئي یورنګه دنیا جوړه کړي وي ، حال داچه په دباندي کښې به یورنګ اویوسپین ټوکر ښکاري نوپدي صورت کښې که مونږ داډول بلوران چه په دننه کښې لږ یاډېر خالص یامختلط رنګونه لري په مختلفو استعداد وسره دانسانانو تشبیه وکوبي ځایه خبره به نه وي مګرسره ددغه له ډېروشیانو څخه وبي خبره پاته کېږو مثلاً : داخلي اوضاعو څخه دنفوسو په سبب دامتزاج یاانعکاس دالوانو یو په بله کښې مثبت ومنفي یااصلي وعارضي رنګونه د شعاعو ، کیمیاوي خواص اواندازي دقوت ، او اثر د کیفیت د هغو شعاعو چه ددباندې خواڅخه ودوي ته مخامخ کېږي اونور . . . نورداسي شیان چه تشخیص، اوجلا والي ئي مشکل دي نومونږ یوازي دغونه قدراحساس کولای شوچه زمونږ ذاتي تجلي په اثر دهغو شعاعوده چه منبع ئي له حده څخه زمونږ دعقل دباندي ده ـ اوداچه مونږ رنګونه لرو دازاده دډېر و عللو : لکه ارث روحي اوجسمي حالت دموروپلار ، هغه دوره چه دمور په نس کښې ئې انسان تیروي ، غذا اومسکن ، محیط تربیه مختلف تصورات دژوند ، او مختلف اهتزازونه دروح چه مختلفو وقوعاتو سره د ژوند مخامخ شوي اوخپل انعکاسات ئي پري ایښي وي اونور... نورچه داعلتونه بیاځای پرځای سره نزدي شوي اوله دغو څخه بیا نور شیان زېږي او یوه لو سلسله مومي چه په هره ثانیه کښې لایتناهي (ذروي) تغیرات پکښې حادثېږي(مونږ مسلمانان وایو: خدای تعالی دهرچاسره بیله بیله معامله لري) داخبره حقیقت لري ځکه داخلي رنګونه مختلف دي یو مضمون چه ودوو تنو ته ووائي پرهریوه باندي بیل، بیل اثرلري په کیفیت کښې ئي فرق وي یاپه ساده الفاظوسره مېلمه چه دهرچا کره ځي په مختلف ډول سره ئي پذیرائي کوله کېږي نوداځکه چه دباندیني واردات چه دداخلي انفعالاتو سره یوځای شوي او بیائي اثر پاته کېږي په ترکیب ئي فرق راځي او مختلف معاجین ځني جوړېږي نودغه سبب دي چه په اعتبار دډول ، ډول حالاتو چه انسان ئي لري دهرچا دخدای اومخلوق سره بیله بیله معامله ، اونظروي، ګواکي دامطلب ښه تراپلاس راځي چه دانسانانو ارواح یوډول ندي ، لکن سره ددغه ټولو وقایعو ، انسان یوطاقت اوقوه دمقاومت لري چه داټول دآشوب ډك نظام اداره کوي ، اویادي پخپله دغه آشوب او دهای هوي څخه ډك عالم دي نونتیجه داولاس ته راضي چه مونږ روح سره ددغونه تغیراتو اورنګونه پېژنو، روح پخپله انسان دي غیرله مونږ څخه ندي چه احتوا پرو کړه شي اوداچه په موضوع کښې دخوب ځیني تعبیرات کول کېږي لکه قوهٔ متخیله باطني وخارجي، یا ارتباط دروح د عالم مثال یادنورو ارواحو سره ، یاسیروتعدد دارواحو

په یوه انسان کښې ښائی داټول شیان تریوی اندازی درست وی مگر پداډول سره چه پوره تحلیل دمطلب په وشی او طرف دقناعت واقع شی زړه نه ور ته تکیه کېږی ، اوس به ولاړشو واصل مطلب ته چه روح په وخت دخوب څه کار و نه کوی :-

روح هیڅ شی دپخوانه هېر وی، ټول خاطرات ئی په زړه وی او که نقص داوزار نه وی تا ته ئی ښودلای شی-روح ټول هغه شیان چه دده په نفع اوضرر اړه لری دماقبل وی که د ما بعدوهغو ته التفات لری نوددغه جهته څه وخت چه مونږ بیده یو اوزار دبدن بیکاره شوی اوروح خپل اصلی وعارضی مقتضیات بیله تعلیله څخه ستادنظره څخه تیره وی - حتی ډېر ځله هغه شیان چه ستا دویښې په وخت کښې په زړه ندی دخوب په وخت کښې ئی درویني او داسی گمان نه کوی چه ته ورسره بی سابقی یې دلته یو اعتراض کېږی: چه ډېر ځله انسان مرگ په خوب کښې وینی اودا امر له مقتضیاتو څخه دروح ندی - او که مرگ دخوب په وخت کښې څرنگه چه یو حقیقی مرگ نه بلل کېږی صرف یوه لوبه وگڼو، ددی لوبی ضرورت هم باید وپېژندل شی ددی اعتراض جواب دادی ترهغه وخت پوری چه وعده داجل نوی رسیدلی روح له جسم څخه دفاع کوی، اوپه حال کښې دویښتوب خپله وظیفه ایفا کوی مگر هاته چه انسان بیده شی نودی په آزاد ډول سره هرڅه کوی مثلاالوزی (دالوتو سره چه پرېوتل ترلی دی) پرېوزی مگر په دی وخت کښې دوه حالته لری :

کله روح دپرېوتلو متأثر شوی اوپه یوه دهشتناك ډول سره انسان دخوب څخه راپاڅېږی او کله صرف الوتنه، اوپرېوتنه لکه دسینما فلم تش دنظره څخه تېرېږی بل کیفیت نه دی ورسره ملگری- په دواړو صورتو کښې اعتدال دجسم اودروح په افعالو کښې دخالت لری لکه دویښې په وخت کښې څوك دلاوره او څوك بی زړه اویا دچا په مخ کښې کوچنی خبری لوئی ، یاغتی خبری وړې ښکاری، دځینو وگړو صحت ښه دځینو صحت ورانوی - څوك رشتیاویونکی اوڅوك درواغجن او مبالغه کاره وی بعضی خلق وآینده حالاتو ته ډېره تلوسه لری اوبعضی خلق هیڅ په فکر کښې دهغه نه وی یاعقیده پر خوب لری ، یانه - خو بونه عیناً پدغه تناسب سره واقع کېږی(اوداتناسب ډېره یوه مهمه نقطه ده په خوب کښې) امامرگ رشتیا چه په هیڅ وخت کښې نه غوښت کېږی اوس به نوو گورو: داډول مرگ چه په ډول دفلم دسینما بیله دهشت څخه لیده کېږی داصرف اتباع دعمومی قانون ده چه هرشی مرگ لری اودخپل مرکز وخواته هڅه کوی نوهر کله چه خوب کښې هم روح یوازی نه وی دبدن سره یوځای لیده کېږی اوالوزی داتقاضا دجسم ده چه لوېږی یامرگ پرجاری کېږی او دروح دخوا څخه په ډول دلوبی تلقی کېږی ښائی که انسان ته قدرت ورکړی شوی وای دغسی به دالوتلو په صورت سره الوتلای او کښېنستلای به .

راغلو دابل صورت ته چه واقعه دیوه دهشت اوتاثیره سره ولیده شی دلته به نو بېرته ولاړشو دهغه دمخه خبری ته لکه چه موویل: چه په افعالو کښې دروح علاوه پردخالت داوزارو پخپله پده کښې هم یوانفعالی استعداد پروت دی چه خارجی اعتراض تاثیر پرکوی نو داډول دهشتنا که حالتونه کله صرف جسمی اووهمی کیفیت وی چه څه حقیقت نلری مثلاً یو سړی چه په خوب کښې ئی په سرلاس نیولی دی دی وائی په سرمی ډېره پرته ده یادکته څخه ولوېږی دی وائی دبام څخه خطاشوم بل هغه واقعه ده چه تاثیر ئی دیوه واقعی راتلو نکی حالت څخه نمایندگی کوی مثلاً دکوهې پرغاړه سړی لحی پښه ئی خطا کېږی او ورلوېږی داوضعیت کنایه دیوې حقیقی واقعی څخه وی چه پس ددغه څخه رالحی اوپه بل ترتیب سره واقع کېږی دلته هم داسوال مینځ ته رالحی چه داډول حقیقی قضایا ولی په صراحت سره نه لیدل کېږی چه په کنایه سره ومخ ته رالحی ؟ - ددی پوښتنی ځواب دادی چه روح دغیبو علم نه لری اونه دی مشاهدتاً آینده واقعه لیدلای شی صرف هغه ارواح چه معتقد اوحساس وی دیوې حساسې آلې په شان (پخواترتماس) متاثر شوی اوهغه اوضاع چه په ډول دمجاز یاکنائی ستا ومخ ته وړاندی کېږی تصویرات دهغه تاثیردی چه روح ئی پخپله مینځ ته را باسی حتی انسان په وبښه کښې هم دغه حالت لری ډېر ځله یوه خبره چه له هغه څخه په آینده کښې خوشحاله یاخپه کېږی تصویردهغه حالت په مخ کښې له ځانه سره کوی یوازی دویښې اودخوب دافرق وی چه په وبښه کښې تصویر دهغه حالت مرتب وی اوپه خوب کښې عکس دهغه وی - اوپه وبښه کښې ډېرداسی مثالونه شته چه یو سړی پخواتر هغه چه مری اویابله لویه واقعه ورپېښېږی پخواتر وقوع ئی پرده اثر شوی اوله هغه څخه داجمال په ډول اظهار کوی .

«نور په ۲۷ مخ کښې»

دنوی پوهنی له اساسو څخه

ولیم براغ او د بلوراتو پوهنه

د ښاغلی عزیزالرحمن «سیفی»
لنډ ونه له المقتطف څخه :

د بلوراتو پوهنه دنوی طبیعی علم له فروعاتو څخه ده چه په ذراتو او جزئیاتو او وړانګو کښې زغېږی او ولې ئې په صناعت کښې خپرې وی .

لمړی په ۱۹۱۲ع سویسری عالم لاود زوریخ په پوهنتون کښې ددې پوهنی اساس کښېښو ، او وروسته سر ولیم براغ او دده زوی ولیم براغ هغه ابحاث ښه وپلټل ، او براغ د ۱۹۴۲ په مارچ کښې تر دنیا تېرشو ، په دې مقاله کښې ددې علم پر ځینو اساسو څېړنه کېږی .

۱ـ دبلوراتو دنوی علم اصول : ـ هر کله چه انسان دتنازع للبقاء په شخړه کښې دهرراز زیارونو اوتکالیفو سره مخامخ کېږی اودخپل ټینګ اومتین عزم په سیوری کښې دی دهیڅ قسم مشکلاتو څخه مخ نه اړوی بلکه دی تل د افکر لری چه د خپلی ترقی دلیاری څخه دخپل عقل اوتدبیر په مرسته مشکلات بیرته کړی او خپل مقصدته ځان ورسوی اوپه خپل حریف باندی بریالی شی ؛ همداسبب دی چه دی تل دخپل مقصد دحصول په لیار اودهغی دمشکلاتو په بیرته کولو کښې شپه ورځ فکر ونه کوی او دهغی دپاره راز راز چاری پلټی، مثلاً انسان دافکرلری چه زه ټول کائنات په خپلو ستر ګوو ینم اوپه دی خپل مقصد کښې کامیاب شم . لیکن هرکله چه دده ستر ګو اونظر ده سره ددغې کامیابی په لیار کښې پوره مرسته نشوه کولی نوده دخپل عقل اوتدبیر په مرسته یو راز داسی ذره بین جوړ کړچه دهغه په مرسته ئې ډېر نری

« پاتی د ۲۶ مخ »

اوس زما په فکر دارالحی چه روح دغه یوروح دی کارونه ټول دده دی مګر داچه پدی خصوص کښې اظهار درأیو کېږی داخبری هم تر یوی اندازی پوری لګیږی مثلا : خوب زاده د عاری تصوراتو سوابقو امیالو، مشاهداتو . . . . . بولی تر هغه وخت پوری چه خبره ئی په استقبال پوری ربطیدا نکړی صحت لری ـ اودا چه وائی: داولیاؤ خوب کرامت دی حقیقت لری ولی ارواح دصالحانو چه زنګ دمعصیت نه وی پرلویدلی نسبت ونوروته روښانه او په جذب کښې داثر مقتدر او حساس وی امالکه دمخه چه موو ویل چه ټول ارواح یو ډول نه دی په عمل ، او قدرت کښې فرق شته نو او س که ارواح دری ډوله فرض کو بسی ځایه خبره به نه وی: اول صالح ارواح څه چه په خوب وینی هغه ا کثره دوینی په حالت کښې صادر کیږی ـ داعلامه، داعتدال، او قوت اوحساس، اوصلاحیت دروح ده دوم دمتو سطو خلقو خوبونه ځنی، خیجی، او ځینی تشی ارزو ګانی تصویر شوی وی چه غالباً په یاد کښې نه پاته کېږی دریم دشریر و خلقو خوبونه نادر یااند رخیجی چه هغه هم په غیر مناسب صورت سره واقعات دماقبل اومابعد مخلوط شوی ښکاره کېږی چه وروسته کنایه هم دترجمانی څخه دهغو عاجزه وی. ځینو کسانو ویلی دی خوبونه چه ژر خیجی صفائی دتخیل ده اوهغه خوبونه چه په ځنډ نتیجه ور کوی صفائی دروح ده اووجه ئی داوائی: چه هغه اوامر چه د عالم بالا څخه صادریږی خوچه تر مخکی رارسیږی ډېر وخت پکښې تېریږی نوصاف ارواح ئی دمخه ترر اسید لو مثلا دوه کاله وړاندی سړی ته الهام وکړی اوخوب وروسته تر دوو کالو وخیجی ـ نو داخبره دغه معنی لری چه قوی ارواح لیری شیا ن نقل کوی او ضعیف ارواح چه قدرت داخذ ئی لږوی وځان ته نزدی شیان ور کشولای شی ـ خوپر هرصورت هرډول بحثونه چه وشی اوتعبیرونه ورته وضع شی روح دغه یودی چه ندی پیژ ندل شوی ـ اوخوب دده دحر کاتو یوحر کت دی چه انکا رنه ځنی کېږی او په مستقیم صورت سره اثبات دده دوجود په کېږی .

اوداسی دقیق شیان ولیدل چه په تشوستر گوئي نشو لیدلی اودغه نری اودقیق شیان ئی دانسان دپاره استخدام کړل اونن ورځخه انسان دخپل ژوندون په چارو کښې پوره کاراخلی . اونن هم ددغی اختراع په مرسته پټ اوپه ځمکو کښې ښخه اودخاورو اوغرونو په زړونو کښې دننه اوپټ معادن میدان ته راوویستل شو اوانسان دخپل استراحت اوخدمت دپاره تیاراو آماده کړل اوهم دغه شان دنورو راز راز تتبعاتو اواختراعاتو په مرسته ریلونه اوالوتکی او راز راز داسی شیان چه دانسان دژوندون چاری پری اسانیږی میدان ته راووتل اودتنازع للبقاء دشخړی ډېر مشکلات پری اسان شو ، او ورو ورو ددی لږ لږ و تحقیقا تو او اختراعاتو څخه ځانته دبیولوجی او بکتریولوجی په نوم مفصل علوم تدوین شوچه نن په صنعت اوزراعت اونوی تمدن کښې پوره برخه لری اوهم دغه شیان دنوي ژوندون اساس ګڼل کیږی .

که څه هم تریوی اندازی پوری ذره بین دومره وکړیشوچه انسان ته ئی ځینی دقیق اجسام ورښکاره کړل لیکن ځینی دارازدقیق اجسام هم شته چه هرذره بین هغه انسان ته نشی ورښکاره کولی ؛ همداسبب وچه انسان دې خبری ته اړشو چه دا مشکل دخپل ژوندون د پیشرفت دلیاری څخه بیرته کړی اویوراز داسی برقی ذره بین اختراع کړی چه ډېر باریک او دقیق اجسام پری ولیدی شی او دعالم دکائناتو ددقائقو نندارهو کړی .

نوده ددی مشکل دبیرته کولو دپاره ئی څه و کړل ؟ ددې مشکل دبیرته کولو دپاره ئی اول د بحری امواجو په خواوښا کښې راز راز پلټنی او تحقیقات و کړل او هغه خپل تحقیقات ئې د رنا او خراغ دوړانګو اوپلوشو سره تطبیق کړل اوددې دواړو تطبیقاتو نه وروسته دې نتیجی ته ورسیدل چه دا ثیر یعنی متوسطو پلوشو څخه پرته یوراز ډېر قصیر اولنډ داسی امواج هم شته چه هغه یوپه لس زره زیات مونږ سره ددقیقو شیانو په لیدلو کښې ځکه مرسته کوی چه دغه ډېرلنډ دپلوشو امواج دهغی ډېرو دقیقو شیانو سره په طبیعی خصائصو کښې د یوبل سره مشابهت لری او ددغو پلوشو په رڼا کښې فلم اخستل ددی نظریا تو کافی دلیل دی لیکن په دغه رو نا کښې دد قیقو شیانو کتل مخصوص قواعدلری، دغه قواعد کوم دی ؟ مونږ په دی پوهیږو چه ټول عناصر دوه نوی دی چه دهغو عناصرو څخه ډېر خفیف عنصر ایدروجین اوډېر ثقیل اورانیوم بلل کیږی. لیکن په دغه عناصر و کښې یوخوداراز عناصرهم شته چه هغه دځمکې دپاسه په اجسامو اودځمکی په فضا اوپه خپله په ځمکه کښې ډېر دی . چه په دغه عناصرو کښې اکسیجن اوسلیکون او الومنیوم ډېر زیات شهرت لری. مثلاً که مونږ دوسپنی یوه توته په لاس کښې واخلو نومونږ به دی نتیجی ته ورسیږو چه دادوسپنی توته دوسپنی دډېرو دقیقوذراتو څخه جوړه اوتشکیل شوې ده لیکن دغه ذرات خوشی په خپل سر بی نظامه ندی غونډشوی بلکه دغه ذرات په ډېر دقیق نظام په داسی شان یوځای شوی دی چه دوی دهغه خپل مقرر نظام څخه بالکل تجاوز نشی کولی همدغه شان دمسواونورو فلزاتو ذرات په یوبیل مخصوص نظام دیوبل سره ترکیب مومی اویوځای کیږی ؛ اودانظام اوددغه ذراتو په منځ کښې مسافت دا شعه (سینیة) نوموپلوشواورڼا په مرسته بالکل ښه معلومیږی اودغه شعاع دهرفلز دترکیب نظام اوخصوصیات جلاجلا ښکاره کوی . نوهر کله چه مونږ دارازشیان ومومو چه دهغو ذرات تریو مخصوص نظام لاندی په متوازی صفوفو کښې دیوبل سره یوځای شوی وی نومونږ په دغه وخت کښې داویلی شو چه دامادی توته (بلور) Crystal ده او دبلور لفظ ددی علم په اصطلاح کښې هغه کامل نظام ته ویل کیږی چه دیوی مخصوصی نمونی اومخصوص مادی په ترکیب کښې ئې ځای نیولی وی. او بلورات فردی ډېردی لکه جواهر اونور قیمتی کانهی او د مالګی اوشکری وغیره بلورات ؛ لیکن کوم مواد چه مونږ ئې هرمورځ په خپلو خوړلو څکلو کښې ډېر استعمالو و اوپه روزانه ژوندون کښې دهغوسره سروکارلروهغه عبارت دهغوفلزی توتو څخه دی چه مونږ ئې درو پیسو او ساعت اوچاقو اوساعت په شکل دخپلو ځانوسره ساتو اوپه خپل ژوندون کښې ورڅخه رازراز استفادی کوو ـ اودی

تولوته په‌عامه‌معنی دقیق بلورات ویل کیږی . حقیقت دادی چه دیوازینی بلور وجود ډېر کم او نادر دی اوداشی ډېرعجیب اطوارلری. که‌مونږ دمسویو بلور پیدا کړو اوپه لاس کښې ئې را پورته کړو نو مونږ داخیال‌کوو چه داد کوتلی اومتینی ختی‌یو غونډاری دی‌لیکن‌چه‌مونږدغه‌غونډاری وتکوونومونږته دکوتو ښکارو دیوسخت‌اوډېرکلك غونډاری پشان‌معلومیږی اوددی سبب‌دادی چه‌هرراز اوهرقسم بلورات ځانته مخصوص دذراتو صفوف لری چه‌ددې فن په‌اصطلاح کښې‌دغه سطحوته دانزلاق مخونه‌ویل کیږی؛ اوپه‌دی وسیله دفلزاتو په‌مینځ کښې تناسب او ترکیبی رغونه اودفلز طبیعت انسان‌ته په ښه‌شان سره معلومیدلی شی اوکه کومه‌بلوره دمتعددو اومختلفو فلزاتو دتوتو څخه تشکیل‌شوې‌وی نوددې‌مرکب اوتوتی دانزلاق‌سطحی به‌دیوی‌یوی سطحی سره متعارضی اومخالفی‌وی اودا معلومه اوښکاره‌خبره‌ده چه‌دهغو فلزاتو په‌ترکیب کښې انسان په‌خپل‌مقصد نشی کامیابیدلی چه‌دهغوی انزلاقی سطحی دیوی بلی‌سره مختلفی‌وی اوله‌دی‌کبله مونږ ته داخبره ښکاره‌اومعلومه‌ده چه‌تول بلوری‌مواد دیوبل سره په کلك‌والی او دروندوالی او سپك‌والی کښې دیوبل‌سره تفاوت اوتوپیر لری.

ځینی داراز واړه بلورات هم‌شته چه دهغو څخه نور مواد جوړیږی او دهغو موادو ترکیبی اجزاء کله کله په‌سترګواوکله کله په‌هغه‌ذره‌بین‌لیدل کیږی چه‌هغه دمعادنو اودرنګو په‌علم او په‌معدنی مصنوعاتو کښې پوره برخه اوډېر اهمیت‌لری. لیکن‌ددې ذره بین اوسینیه‌وړانګو دومره فرق‌دی چه‌ذره‌بین فلز کشف کوی اوسینیه‌وړانګې دفلزاتو دذراتو‌نظام اونورپټ جزئیات اودهغو انزلاقی‌سطوح اوترکیبی هیئت کشف کوی او انسان‌ته دفلزاتو یوبل سره تناسب او دهغو داستعمال‌چل اونتیجه ښکاره کوی او دا کار په ننو مصنوعاتو اوفنونو اواختراعاتو کښې پوره او کافی اهمیت‌لری؛ ځکه‌یومهندس ددی آلی په‌مرسته کولی شی چه د فلزاتو تناسبات ویژنی او دهغو سپك والی او دروندوالی اودانزلاقی سطحونظام اوترکیبی تناسب معلوم کړی اوهم داکار دنتو اختراعاتو اساس دی او ددی قواعدو اومعلوماتو په‌سیوری کښې‌راز،راز بالونونه اوالوتکی‌اوراز،راز فلزونه‌میدان ته‌راوځی اودنوو نوو تازه اختراعاتو شمیر اواقسام زیاتوی اوددی سینیه وړانګو په‌مرسته ډېر داراز مواد نن کشف شویدی چه‌هغه پخوانو پوهانو بلوری نه ګڼل لیکن نن‌ددی‌نوی اختراع شوی آلی‌په مرسته‌داخبره ښکاره اوثابته شوه ، چه‌هغو کی اووریښمن او مالوچ هم بلوری دی .

هر کله چه مونږ په‌دی موضوع باندی تریوی اندازی پوری رڼا وغورځوله نواوس غواړو چه په یولنډ اومختصر ډول ددې آلی داستعمال‌په‌طریقه‌او چل باندی هم‌بحث وکړو .

مونږ دمخه‌وویل چه‌مونږ ددې آلی رڼا اوپلوشو کښې دجسم دطبیعت نظام کشف کولی اودبلوراتومقام اوتناسب معلومولی‌شو؛ اودی نتیجی ته‌رسیدلی شوچه بلورات دجزئیاتو اوذراتو یوه منتظمه مجموعه وه ؛ اوذرات اوجزئیات په‌بلوراتو کښې دهغی مادی نوم دی‌چه دیوخاص نظام لاندی ئی‌ترکیب موندلی وی . اوپه‌کوم‌وخت‌کښې چه‌سینیه‌وړانګی‌اوپلوشی‌په یو جسم اوفلز باندی واچولی‌شی‌نودغه‌رڼاددغه‌جسم‌اوبلورذرات او جزئیات اود انزلاقی سطو حو نظام جلا ښکاره کړی او دجسم دترکیبی نظام څخه بلور پور ته او دهغوپه‌اسرارو‌انسان پوه کاندی .

اوهر کله چه‌انسان ته‌دهغه بلور دا نتظام طریقه معلومه شی‌نودغه خپل معلومات دنورو علوموداصولو سره‌یوځای اومقایسه کړی‌اوددغه معلوماتو او مقائسو په‌سیوری‌کښې‌پوهان‌دنوو کشفیاتواوجلااسرارو‌په‌میدان کښې داخل اونوی‌شی میدان ته‌راوباسی .

۲ ـ براغ اوددې پلټنه

دنومبر په‌میاشت سنه ۱۹۰۳ کښې دنوی زیلاند په‌دونیدن نومی‌ښار دعلومو دوړاندی تګ‌په‌خصوص کښې یولوی مجلس‌وشوددې تولنی دریاضی او طبیعی علومو رئیس دادلیددپوهنتون دریا ضیاتو اوطبیعیاتو

رئیس مقرر شو اوده ته وویل شو چه ته به ددی علومو
په خو اوشا کښې یوه دریاست خطبه لولی ؛ ده ددی
مجلس ترتولیدلو خومیاشتی وړاندی فکروکړ دنونسم
قرن په پای کښې خوکهیرب اودوړانگو دنشاط ښکاره
کوونکی آله کشف شوی وه اوتر ۱۹ پیړی پوری
بی د (نزریسیر) نه بل څوك ددغه میدان پیاوړی نه و
اولکه هغه بل چاپه دی موضوع کښې چه لاس او
اقتدار نه در لود ؛ ده ددی میدان اودی ریاست
دپاره په ځان تیارو لوگوتی پوری کړی اوپه دی فن
کښې ئې تجربی اومعلومات اوپلتنی شروع کړی او
ولیم براغ په دی اقدام پیل وکړ او په حقیقت کښې
دادلید معلمی د ده د دی اقدام باعث اوسبب شو اوده
دانگلستان دتلو قصد وکړاوپه دی ضمن کښې طبیعی
کتابونه مطالعه کړل .

او ددی مطالعاتو په سلسله کښې ده د علمی
ژوندون نوی لیار وموندله اوپه دغه سلسله کښې ده
ته دا مفکوره پیداشوه چه ذرات دجسم دپاره داسی
مثالونه لکه چه خښتی ئې دیوې ودانی دپاره لری
او دکول تولی مادی هم دغه مثال لری؛ اودهر جسم
ذرات دیوبل سره تماثل اومشابهت لری مثلاً ځینی
دکربون ذرات دی اوځینی داکسیجن اوځینی دوسینی
اوداتول اقسام نوی (۹۰) اقسامو ته رسیږی .

اودنړی تول اجسام لکه دحیوانا تو اونباتاتو
په شان دی چه دوی په دوه قسم ویل کیږی چه یو قسم
ته ئی اجسام حیه اوبل ته ئی اجسام جامده ویل کیږی ؛
اود اتول اجسام دذراتو دتشکیل او ترکیب څخه
په مختلفو اوراز رازشکلونو جوړ یږی .

مثلاً دالماس دذراتو ترکیب په یوخاص نا آشنا
دول شوی دی ؛ اودالو منیوم اوا کسیجن ذراتو په
یوخاص قسم ترکیب موندلی دی .اودسودیوم او کلور
دذراتو څخه مالگه پیدا کیږی . او داکسیجن
اوایدروجن دذراتو څخه جمد پیدا کیږی .

دذری حجم دیر کچنی دی اونه لیدل کیږی لیکن سره
ددی هم ددی علم پوهانو په مختلفو وسائلو دخپلو راز
راز پلتو په سیوری کښې دذری وزن اوحجم معلوم کړی دی

دوی وائی چه دځمکی دحجم په اندازه یو کانی فرض
کړی شی نو په دغه کانی کښې به دکربون دذراتو څخه
دیوی ذری قطر شپږ انچه وی ؛ دوی وائی چه اول
یوشی جوړیږی نودتولو څخه لمړی لکه دیوی ودانی
پشان دهغی دودانی دپاره ذرات جمع کیږی اوبیا لکه
دودانی دخښتو پشان دغه ذرات تریوخاص نظام لاندی
جمع اودهغی مجموعې څخه دغه جسم جوړیږی ؛ که مونږ
یوه داسی ماده تر نظر لاندی ونیسو چه هغه ماده ځانته
مخصوص خواص لری ، نو مثلا اوبه دذراتو دمجموعی
څخه جوړی شوی دی چه هغه مجموعه عبارت دآیدروجن
دد ووذرو او دا کسیجن د یوی ذری څخه دی . اودا
دریواړه برخی په خپلو کښې داسی کلك ارتباط لری چه په
اسانتیا سره ددوی په منځ کښې بیل والی نه لیدل کیږی
سره ددی چه ددی دو اړو برخو بیلول ناممکن او
ناشونکی کار نه دی لیکن ددوی ارتباط د یوبل سره
یو داسی شی دی چه د دوی د ترکیب څخه یو مستقل
مرکب شی داوبو په شکل میدان ته راوتلی دی.اودکیمیاء
دعلم پوهان دذراتو مجموعه او کم شیان چه دغه شانته وی
جزئی بولی .او په دی کښې شك نشته چه داپوهان دکیمیاء
دعلم ترقی دجزئیاتو په خواصو اواشکالو او په طبیعت
پوهیدل بولی ؛ اوتول اجسام اومرکبات ددی نوی (۹۰)
عناصرو دجزئیاتو څخه روغ شویدی .

اگر که مونږ تر یوی اندازی پوری دهر جزئیات
معلوم کړی دی لیکن دهر داراز جزئیات هم شته
چه هغه مونږ ته لا تر اوسه ندی معلوم شوی . ځینی
خلك داوائی چه مونږ داراز زره بین ولی نه جوړه وو
چه په هغی سره تول جزئیات کشف کړو اودهغوی
طبیعتونه وپیژنو اودهغوی په ترکیب او طبیعت ځانونه
پوه کړو ؟ ددی خبری ځواب دادی چه دذره
بین اوددی شیانو دکشف دآلی قوت محدود دی .
اوددی سبب دادی چه کوم درنا او کشف آلات چه
ددی مقصد دپاره جوړشویدی دهغوی مدار په اجسامو
باندی عبارت دهغی منعکس رنا څخه دی چه اجسام په
دغه رنا لیدل کیږی ، اودرنا دامواجو طول معروف
اومعلوم شی دی ، اوجزئی اوخصوصاً ذره دامواجو

خخه کوچنی دی نوله‌دی کبله مونږ ددغه امواجو
په‌مرسته ډېر کوچنی شیان نشو لیدلی. ددی مطالعاتو
په‌لړ کښې ولیم براغ دمدام کوری نظریات‌هم وکتل
اوده ددغو نظریاتو داسی تغیروکړ چه‌دده‌نه پخواچا
دغه نظریات دده‌پشان‌نه ووحل کړی اونه‌ئی دده‌پشان
په‌مطلب پوه‌شوی‌وه‌ده ددغه نظریاتو په‌خواوشا کښې
ډېر نظریات قائم کړل اودهغی په‌خواوشا کښې ئی په
پلټنو اومطالعاتو بیل وکړ.

۳ ـ په‌وړانگو سره بلوری حل

داوړاندی‌بحث دیوبل ډېر مهم‌بحث دپاره‌مقدمه
وه‌چه هغه ددی‌فن‌پوهان‌په‌دی نامه‌بولی (په‌سینیه‌وړانگو
سره دبلوراتو دذرو اوجزئیاتو ترکیب) وائی اودا
دهغه علم‌خانگه ده‌چه‌په ننني صنعت اواختراعاتو کښې
ثابته اوښکاره فائده لری.

دعلم‌دتاریخ‌دپلټنی خخه‌انسان‌ته داخبره‌معلومیږی
چه کله کله‌دعلم دوړاندی تللو په‌مخ کښې ډېر سدونه
اوموانع پیښیږی اوعلم وړاندی تللوته نه‌پریږدی لیکن
لږه موده وروسته ددغه سداومانع دبیرته کولو دپاره
داراز مفکوری‌اونوی‌کشفیات‌میدان‌ته‌راوتلی‌دی‌چه دغه
موانع ئې بیرته کړی اودخپل مخ‌په وړاندی تگ‌لیار
ئی‌خلاصه کړی ده‌اودغه مثال دولتن دنظر بې دی چه
ذره‌ئی کشف‌کړه‌اوفرادای‌داخبره کشف‌کړه‌چه‌متحرك
مقناطیس دبرق امواج پیدا کوی. اوهم دغه شان
داشعة السینیة کشف هم دی.

براغ ددغه‌کشفیاتو په‌خصوص‌کښې وائی‌چه‌دنیوتن
دنظر بې لنډ مطلب‌دادی‌چه‌رڼا ددراتو دترکیب خخه
جوړه‌شوې‌ده. اوهوجنس وائی‌چه‌رڼایوموجی حرکت
دی؛ اوهریودخپلی خپلی مدعا داثبات‌دپاره رازراز
دلائل‌ویلی‌دی؛ لیکن‌دهوجنس دنظر بې تائیدیونگ
اوفرینل وغیره هم‌کړی دی‌اوهغوی په‌دلائلو داخبره
ثابته کړی‌ده چه‌په‌رڼا کښې موجی رای کافی ده.
ردی‌وروسته سینیه وړانگی کشف شوی او دایوقسم
رڼاده چه په ستر گو نه‌لیدله کیږی لیکن ددی عادی
رڼاسره خه‌قدرته مشابهت لری.

صرف‌دومره‌فرق‌دی‌چه ددی رڼا امواج دعادی
رڼاداموا‌جو خخه‌دسووزرو دوه چندلنډ اوقصیردی.
اوددی امواج په‌ستر گو نه‌لیدل کیږی اوکوم وخت
چه‌مونږ په‌دی‌رڼا دیوشی لیدل غواړو نود دغه شی
دلیدلو دپاره خاص شیان استعمالو وچه هغه دشیانو
په‌لیدلو کښې مرسته کوی‌ددی کاردپاره یاخصوص
ستر گی‌دی اویایو راز خصوص فلمونه‌دی اوهر کله
چه‌داشعة‌السینیة امواج‌ډېرلنډدی نوله‌دی کبله په دی
رڼاکښې‌جزئیات دخصوص‌فلم په‌ذریعه لیدل‌کیږي. اوهم
داشی دولیم براغ دکشف او تتبعاتو رکن دی چه ده
اودده زوی‌لورتن براغ‌دخپل‌دی زیار په نتیجه کښې
په‌سنه ۱۹۱۵ کښې دنوبل جائزه اخستلی‌ده؛ هم داد
استاذ لاواو سرولیم براغ او دده دزوی اونو رو
پوهانودزیارونو اوپلټنو نتیجه‌وه‌چه‌نن‌ئی‌دعلمی تحقیقاتو
له‌مخ‌خخه‌پلوپورته کړاوددغه‌تحقیقاتو په‌مرسته‌د بلوری
اجسامو اواکثرو فلزاتو او فلزی اخلاطو خواص
اوترکیب معلوم شواو کوم اختراعات چه به پخوا
دتجربو په‌سیوری کښې په‌غیر یقینی ډول سره کیدل
نن‌په‌فنی اویقین ډول کیږی او داعملی تطبیق دیوعلمی
بحث‌اساس وگرځید. ځکه‌چه‌دلاو، اوسرولیم براغ
دبحث اوتدقیق‌نتیجه داوه‌چه آ یاداشعة السینیة طبیعت
یوراز دقیق اجسام‌دی چه‌دمادی اجسامو کارگوی‌او
یادالکه‌درڼاداموا‌جوپشان‌امواج‌دی. اوداشعة‌السینیة
مباحثو د پرنس ده برولی، او دامریکاد افیسن
اوجرمر؛ اودانگلستان‌دطمسن؛ نظریات ښه روښان
کړل اوداخبره‌ئی‌ثابته کړه‌چه‌داکله‌داموا‌جو کارگوی
اوکله دذراتو؛ اوداهغه لوړه‌نتیجه ده چه‌ددغه‌علمی
نظریاتو اوپلټنو خخه میدان ته‌راوتله اونن ئی‌دتمدن
اواختراعاتو سره‌پوره مرسته وکړه اوداهغه معلومات
دی‌چه‌نن‌دنوی‌علوموبنسټ‌اواساس‌گڼل کیږی اومخترعین
ورخخه په‌خپل فن کښې لوړی لوړی استفادی کوی.

لغوی څېړنه:

غر او غرجستان

ښاغلی حبیبی

زموږ دژبی یوه خورا مهمه او تاریخی کلمه (غر) دی لحکه چه پښتانه په غرنی مځکه کی لوی شوی، او دغره سره زو کړی او مړه شوی دی نو په پښتو کی هم (غر) خورا اهمیت موندلی، او غرنی افکار هم زموږ په ادب کی خورا خوندوره برخه ده.

دلته زما دا مقصد ندی، چه په پښتو ادب کی دغره اهمیت خر گند کړم، لحکه چه دا بحث ژبنی او لغوی دی او زه غواړم، چه دوطن په تاریخی لحاظ کی دغره د کلمی اثر دروښیم، او د پښتو ژبی تاریخی اغېزې په تاریخی پخوانیو دورو کی ښکاره کم.

غر په حقیقت کی خورا زړه آریائی کلمه ده، چه د اوستا په هوم یشت کی (گیری) راغلې (۱) او هم په خورده اوستا او دهغه کتاب په فرهنگ کی لیدله کېږی (۲) په سنسکرت کی هم دا کلمه موجوده وه او په دغه ژبه Giri (گیر یا گیری) .عره په معنی راغلی دی. (۳)

له دغو تاریخی اولغوی اسنادو څخه دا ښه زیاد ېږی چه په پخوانو آریائی ژبو کی ددې کلمې ریشه سته او ښایی چه دا کلمه د آریانانو له اصلی ژبی څخه پښتو سنسکرت او اوستا را اخیستې وی. که دافغانستان د تاریخی لحاظ او دسړیو او قبایلو نوموته و گورو دا به ښه راته ښکاره سی چه له قدیمه دغره کلمه مستعمله وه او دلحینو لحاظ په نومو کی تر اوسه هم لیدله کېږی.

مثلاً دوطن په تاریخ کی موږ غلزی یا غلجی اروو چه دا نوم بې شکه (غرزی) دی، یعنی د غره زوی چه وروسته غلزی شوی، او خلقو ډول ډول معناوی لحنی اخیستی دی.

دغسی ډېری نوری کلمې هم سته: غور، غرچه، غرج خلج چه تو له له دغی ریښې څخه جوړی شوی دی او د پوهانو په رأی دغه تولی کلمې د آریائی قبایلو نومونه دی یا ددوی د هستوگی لحایونه وه چه په منځنۍ آسیا کی موجود وه. (٤)

توماسچك چه یو غربی محقق دی وایی: چه گر Gar دزړې باختری ژبی کلمه ده، او غرچه هم د آمو دلوړو لتو دغرنیو قبایلو نوم وو (٥) نو ښکاره دی چه غرچه یا خلج، یا غرج یا غلجی تو له دغرو دزامنو معنی لری.

« نور په ۳۳ مخ کې »

(۱) داوستا فرهنگ ص ۲۷۲ـ داوستا لمړی جلد لسم یسنا. (۲) خورده اوستا ص ٤٩٧ د بمبئی طبع.
(۳) هندی او انگلیسی قاموس ص ٦١١ د ١٨٠٧ ع طبع (٤) د بار تولد تاریخی جغرافیا ص ٨٨
(٥) د پامیر ژبی د خاوری آریانانو تمدن د گایگر المانی ص ۷۲



پښتو په تیرو میاشتو کی

دپښتو ټولنی دپلټونکی له قلمه:

تیره میاشت چه دپښتو په باب کی زموږ ښاغلو همکارانو وطنی مطبوعاتو د ذکر وړ څه لیکلی اویا اقدامات کړی دی لاندی ئې د خپلو افکارو سره لیکم :

اتفاق اسلام

داتفاق اسلام جریده د پښتو په لار کی دپرزیار کاږی، اوپښتومقالات ئې هم ځکه چه اکثر دپښتو دنو ولیکونکو له قلمه دی نوډېرغنیمت دی . یونوی اقدام چه دهغی جریدی له خوا دپښتو دلیکونکو دتشویق دپاره شوی دی، دادی ، چه هغی جریدې دپښتو دیوې خورا ښې مقالې دلیکلو د پاره (۵۰۰) افغانۍ جایزه معینه کړې ده .

داسی اقدامات د هرات دمحترم ولایت پر پښتو پالنه اوعلم روزنه ښه دلالت کوی ، پښتوټولنه دهغی جریدې له ښاغلی مدیر اود هرات د محترمو پښتو پالونکو مشرانو څخه تشکر کوی .

داتفاق اسلام په مقالاتو کی یوه مقاله دقادر شاه پښتون ادیب په شرح حال کی ډېره ښه اوغنیمت وه اودښاغلی طالب دوه مخمسه درحمان بابا پرغزلو دادبی پلوه ډېرخوازه او دقدروړ وه .

« پاته د۳۲مخ »

وگوری، : غرچه کټمټ دغه اوسنی دپښتو غرځه یاغرځنی دی، چه اوس هم د(کوهی) معنالری په اسلامی دوره کی جغرافیا لیکونکی اودعربو پوهان دغه علاقه چه اوس ئې میمنه بولو ، غرجستان یا غرشستان لیکی اویاقوت دالبشاری په حواله تصریح کوی چه غرج دغره (کوه) په معنادی . (۱)

په غوری دوره کی دالته (غرستان) هم بلله شوې ده چه عربی ډول ئې هغه غرجستان دی، مثلاً دمنهاج السراج دطبقات ناصری قلمی نسخې چه لیدلی کېږی هلته (غرستان) لیکل شوی دی چه دغه او سنۍ کلمه (غر) عیناً پکښې ساتلې شوې ده .

ځکه چه منهاج السراج پخپله ددغه ځای اوسېدونکی وو ، اوددغی لتې له خلقو څخه ئې پخپله دا کلمه اروېدلې وه ، نودا ښکارېږی، چه (غرستان) اصلاً وطنی اوپښتو کلمه وه ، چه په دغه ځای کی مستعمله وه (ستان) چه وروسته په پارسو کی هم مستعمل سو داهم پخوانۍ آریائی ظرفی کلمه وه ، چه له پخوا په پښتو ژبه کی موجوده وه ، ځکه چه اوس زما مقصد د (ستان) شرح نده نو به دا بحث بلی گڼی ته پرېږدم.

اوس موږ له لوړو تاریخی څېړنو څخه دغی نتیجې ته رسېږو، چه په پخوانو عصرو کی دپښتو ژبی اغېزه خورا خپره ، اودوطن قبایل هم دنژاد اوپښت په نزدېوالی یو له بله سره نښتی وه .

ځکه نواوس ددوی تاریخی نومونه ټوله یوه مرجع ته رسېږی، اوتاریخی وحدت اوقرب ئې ثابتېږی .

---

(۱) معجم البلدان ج ٦ ص ۲۷۷

طلوع افغان

تېره میاشت په طلوع افغان کی یوه ادبی غوره برخه شروع شوې وه ، چه دپښتنو زړو ادیبانو ځنی ورك اونادر آثار اواشعارئې مسلسلاً نشرول،داسلسله دښاغلی محمد شریف خان جانان په زیار او پلټنه دوام کوی، اودپښتو ټولنی له نقطهٔ نظره یوه خورا قیمتی سلسله ده ، چه باید حتی المقدور پوره اوبشپړه سی، ځکه چه داسی ملی آثار دطبع اونشرپه و سیله له اتلافه راگرزی اوساتل کیږی! دغسی هم دښاغلی عبدالغفور خان خروټی په قلم یوه خورا دقدروړ مقاله دیوه گمنام پښتون شاعر رحمت سدوزی په باب کی نشر شوې ده چه داسی مقالات زموږ په نظر ډېرقیمت لری .

پښتو ټولنه دطلوع افغان له ښاغلی مدیراوټولو همکارانو اومرسته کوونکوڅخه غواړی، چه دغه ادبی تدقیق لنډ نکړی ، اوهرکله زیار وباسی چه دپښتو ادب په نشر اوساتلو اوخوندی کولو کی ښه برخه ولری ، موږ له ښاغلی جانان اوښاغلی خروټی څخه دپښتو دادب په نامه تشکر کو و .

دمیمنې ستوری

دوطن پراسمان دانوی ستوری وینوډېرخوښېږو خو ددې ستوری سره خو شبختانه دپښتو رڼا هم ملگرې ده . دستوری په دوهمه گڼه کی زموږ دوطن یوې ښاغلی پوهی مېرمنی (وجدان) پرپښتو اواهمیت ئې ډېره ښه مضمون کښلی دی . چه پښتو ټولنه ددې ښاغلی مېرمنی له ملی احساساتو څخه ډېرتشکر کوی او ددې نور امثال له خاونده غواړی .

رسمی چاری پښتو کول

تېره میاشت کی موږ دا دخوښی وړ خبرونه اروېدلی دی، چه دقندهاردمحترم عسکری قوماندانیت دحرب دارکانو دایرې ، اودخان آبادعسکری محترم قوماندانیت داتصمیم کړی دی، چه خپل رسمی کارونه اولیکونه په پښتو واړوی .

دغسی هم دکندزدکر هنی دفارم عمومی مدیریت هم یوه برخه خپل کارونه پښتو کړی دی .

له دغوښنو اوملیت خواهانه اقداماتوڅخه ښکاره کیږی،چه اوس اکثرښاغلی مامورین دپښتواجراآتونه تیارشوی ، او پخپله دملیت په احساس سره غواړی چه رسمی کارونه په پښتو اجراء کړی . پښتو ټولنه له لوړو ذکر شوو محترمو مقاماتو څخه تشکر کوی اوله ځښتنه غواړی،چه ژر ترژره نوردوایرهم په دې ملی چاره کی بریالی سی .

دهرات دولایت پښتو پالنه

داتفاق اسلام له خبروڅخه ښکاره کیږی ، چه دهرات دمحترم ولایت ښاغلی لوړمامورین اومخصوصاً دهغه ځای ښاغلی عسکری قوماندان دپښتو پالنی ته ډېره توجه کوی، لکه چه په (۲۵) دسرطان هلته یولوی دامتحان مجلس جوړشوی ، اوټوله دحکومتی اوملی دایرو مامورین اومشران پکښې شامل وو،او ښاغلی عسکری قوماندان ددار الحکومگی دکفیل په حیث پخپله پکښې شامل وو،اودټولو مامورینو دپښتو امتحان واخیست شو،اودوی ددرسوپیشرفت وکوت سو اوښاغلی عسکری قوماندان دپښتوملی ژبی دزدکړی په باب کی ټولو مامورینوته ښه ویناوکړه .

پښتو ټولنه ! دښاغلی عسکری قوماندان له دې خاصی توجه څخه تشکر کوی ، اوله خدایه غواړی چه ټول مامورین ددوی په شان خپلی ملی ژبی ته دغسی توجه وفرمایی .

مشاهیر

ادبی موازنه:

رحمان او حمید

ښاغلی گل پاچا «الفت»

دواړه شاعران دی او په خټه په مهمندو کېږی، داسې پښتون به نه وی چه دادوه نوموړی او پاخه شاعران بلکه دشعر او ادب امامان به نه پېژنی - په ډېرو ادبی محافلو کښی گورو چه ددوی په شعر او شاعری- باندې خبری کېږی او هر څوك ورسره دلچسپی لری ځکه چه دادوه منلی استاذان لکه دوه غټ او روښانه ستوری وړاندې وروسته دنیاته راغلی دی او هر یوه له ځان سره نوې رڼا راوړې ده - ددوی دشاعرانه فیضان دسپېڅلی نور څخه ډېر تیاره کورونه رڼا شوی او ډېرو ځایونه ئی سپینی پلو شې رسېدلی دی - ددوی ادبی مکتبونه تر اوسه پورې داسې جاری دی چه د تعطیل ورځې او جمعه یا پنجشنبه پکښې هېڅکله نه وی. ددوی دشاعری- دوه لوی بحرونه که څه هم څنگ په څنگ او یو ځای بهېږي مگر بیاهم یو غیبی برزخ ددواړو تر مینځ شته چه یوله بله ئې په هر څه کښی بېلوی او هر څوك ئی فرق کولی شی.

ددوی دادبی گلزارونو رنگ وبوی له ورامعلوم دی او دسریندو اوازونه ئی هم په ښه شان پېژندل کېږی خو دا پېژندنه دټولو په نظر کښی یوراز نه ده او هر څوك ئی یو شان نه وینی - دا یو خوب دی چه هر سړی ئی بېل بېل تعبیر کوی او ډېرې خواوې لری. سړی چه دننگرهار او سپین غره ادبی فضا او افق ته گوری لکه قوس قزح دوه ډوله رنگونه ئی ترستر گو کېږی چه رحمان او حمید یکښې ځان ښکاره کوی مگر دارنگونه سره له دې چه ښکاره امتیازلری بیاهم یوله بل سره گډ شوی او تداخل یکښې راغلی دی.

ددی دوه رنگونو بریداو سیمه معلومول یا ددې جغرافیې لیکل څه اسانه کار نه دی.

زه به کوښښ و کړم چه ددوی دشعر او ادب نوعیت څه نه څه وښیم مگر زما داتکل تال به هم لکه دبوډی- تال داسی وی چه یوه هوائی ننداره به بلل کېږی ځکه چه دلته ډېر داسی شیان مخی ته راځی چه زمونږ خوند ځکم مگر تفصیل ئی نشم کولی.

سړی په ډېرو خوږو اوخوندو روشیانو ژبه تکوی اوخوازه یا ښه ورته وائی مگر هر څوك پوهېږی چه تول خوازه اوخوند ورشیان یوراز نه دی.

ډېرو شیانو ته سړی سپین یا تور وائی مگر څنگه چه سپین او تور یوله بله فرق لری همدغه رازهر یو پخپل کور کښی هم درجی اومراتب لری چه تفاوت ئی ثابت او محقق دی نوزما تبصره به هر گوره دیوې نقشی مثال لری چه لوی لوی غرونه اوډك ډك سیندونه به یکښې لکه خطوط داسی ښکاری او یو اجمالی لوری لو دن به سړی ته ښئی مگر لوړې ژوری به ئی څوك نه وینی او نه به یکښې دهوادونوبهار اوخزان معلومېږی خودا به تو ل زمانقصان نه وی دموضوع تقاضا به هم یکښې دخل لری.

سړی چه یوی عمومی هنگامې ته غوږ ونیسی یا ددوی

دواړو دیوانونو ته‌له‌ورا گوری داسې معلومېږی لکه چه‌رحمان بابا یواخلاقی اولار ښودونکی شاعروی چه خلقوته دشعر په‌شپیلۍ اودعشق‌په‌نغمه کښی د ژوندانه سمه‌لار ښئی اودبلبلو په ژبه حکیمانه خبری کوی مگر حمید دښکلو اونازولو شنوخالو ، تورو ستر گو ،خط وکاکل ته هر ساعت ستر گکونه وهی‌او لکه پتنگ په سوزېدونکی شمع ځان‌جلیا کوی .

رحمان بابا زیات‌میل‌عشق پر ستۍ ته‌لری‌اوحمید دحسن پرستۍ بیرغ هسك کړیدی ـ دی‌وائی :

دحمید زند گانی دیار په مخ ده
ناقصان به ئی ژوندی بو لی په سا

❀ ❀ ❀

مگر رحمان بابا عشق اومینه هغه‌څه بولی چه باید خپل ژوند هم‌ورځنی ځار کړی .

ځینی کسان درحمان بابا اودحمید ادبی مکتبونه پدی راز بیلوی چه حمید دناز کخیالې استاد گڼی او رحمان ته دساده اوخوږی انشا حق ور کوی ، یاهغه دجمال اودی د معنی منادی گڼی .

زه‌دامنم چه‌درحمان بابادعشق قبله‌له مادی حسن څخه پورته ده اویوازې ښایست یاتش ښکلیتوب دده ځه‌نه‌ده بنده کړی بلکه‌دی له‌دی ښایسته او رنگینو پردو هغه‌خواهم ځینی تجلیات گوری اودمینی‌په صافه هنداره کښی‌ماوراله حسنه نورشیان‌هم‌وینی ـ دده‌عشق او محبت دحسن اوسینگار مولودنه دی بلکه دده په نزد حسن دعشق په‌اعتبار نامه‌چلیږی اوپه همدغه سکه قدر پیدا کوی .

لکه چه پدی‌بیتو کښې‌دامطلب په ښه‌شان‌خر گندوی :

نار دعشق پر ور ش مو می له عشقه
هسی نه چه د خو با نو په سینگار شی

❀ ❀ ❀

هیڅ مو قوف دمعشوقې په حسن نه دی
دعاشق خاطر پخپله مینه ښاد دی

حسن‌واړه دعاشق‌په عشق‌موقوف دی
معشوقه که وی چوړی که ښاپیری

❀ ❀ ❀

عشق دی داچه معشو قه شو وعاشق ته
ښه ر خسار دمهر و یا نو په اسلوب

❀ ❀ ❀

مگرددې خبری معنی دانه ده چه درحمان بابا په شعر کښې غزلی آهنگ او شعری جاذبه له چا نه کمه ده یاداچه ده دحسن‌اوښایست‌نندارہ نه ده کړې اودناز کخیالی برخه ئی لږه ده . همدار نگه حمید هم یوازی‌دتش خیال خاوندنه دی بلکه دننگ و نام پوره طرفدار اودتن اسانۍ دښمن هم دی ـ ددرس اومکتب دروازی ته ئی هم هلکان رابللی اودیتیمانو اوښکی ئی هم پخپله لستونی پاکی کړیدی ، دعشق اومینی دپاره ئی هر راز ذلت ته سرنیولی مگرد طمع ځنځیرئی په غاړه نه دی‌پرې ایښی(۱)دچامغلو اله ئی کله نه ده‌تپره کړی مگرهیڅ کله ئی له خدایه‌داسی دروند والی‌هم نه دی‌غوښتی‌چه په‌چاباندی‌بارشی. (۲)

زه او س دلته په دی مقاله کښې ددی دواړو نوموړو شاعرانو په شعر باندی هغه شان تبصره نشم کولی‌چه دموضوع حق پوره‌اداشی‌اوتول‌خصوصیات ئی وښودل شی مگرڅه نه څه به ځینو ټکوته اشاره‌وکړم چه ددوی دکلام دافادې ډول اوهغه کیف‌چه ددوی په شعر کښې‌لیدل کیږی تریوه حده وښودل شی .

لکه چه رحمان بابا پخپله شاعری کښې له عشق اومینی ډېرمتاثردی اوهرځای دغه مضمون په راز راز پیرایو کښې ادا کوی ، حمید هم د محبت سوز وگداز ناقراره کړی اوپه‌متعددو ځایو کښې له عشق نه فریادونه کوی ، یعنی یو د عشق ستاینه کوی اواعلی مرتبه‌ئی بولی اوبل ئی اسمانی تندر اوتوره بلا گڼی‌یاورځنی په سرولمبواوغم باندې‌تعبیرونه کوی چه دغه دی دلته ئی نمونی ښیو .

---

۱ نور قیدونه واړه‌سهل‌دی‌حمیده
خو په غاړه دې د طمع ځنځیر مشه

۲ دخسرې‌په‌خبر سپك ښه‌یم‌بی‌قدره
خدای‌مې‌مکړه‌هسی‌دروند چه په‌چابارشم

رحمان بابا اوعشق :

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا

ترعشق غوره بل خه کار په جهان نشته
ترهمه کارو نو غوره کار دی دا

❀ ❀ ❀

که اعلی مرتبه غواړي عاشقی ده
نور همه واړه ادنی دی ادنی مشي

خو دعشق په خمخانه ئی داخل نکړم
پخته نه دی دغه عقل خام زما

❀ ❀ ❀

عاشقان په عشق کښې واړه سلطانان دی
پدی ښهر کښې نیستگار اوناتوان نشته

❀ ❀ ❀

عشق یو داددی په عاشق باندی له خدایه
هسی نه چه یائی پیری یائی پلوری

❀ ❀ ❀

عشق عاشق لره یو هسی پیر استاددی
چه به نه وی بل داهسی پیر استاد

❀ ❀ ❀

درحمان په عاشقی کښې ستر گی وشوې
خوك چه وائی عاشق ړونددی هنه خوارشه

❀ ❀ ❀

عشق د نفس له خاصیته منزه دی
کاردستر گو به خوك خه رنگ په دهان کا

❀ ❀ ❀

و اسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

❀ ❀ ❀

بې د عشقه که مې عیب که مې هنر دی
ما غوخ کړیدی له ځانه بل پیوند

❀ ❀ ❀

مرتبه که د عشق شی ورته خر گنده
ملایك به واړه وائی چه بشر وای

حمید اوعشق :-

چه نازل شو د عشق تندر له اسمانه
ماحمید د غم لایق ورته لاس ونیو

❀ ❀ ❀

ماهم زده چه عاشقی تو ره بلا ده
باري تیر له دی تدبیر ه کړم تقدیر

❀ ❀ ❀

چه د عشق په غم اباد یم دیره شوی
نور مې هیڅ کله ښادی دو جود نشته

❀ ❀ ❀

په ځوانی دعشق غمونو حمید زوړ کړ
بی مدې ئی زیره سپینه شوه ملا غبر گه

❀ ❀ ❀

کامیابی په عشق کښې نشته زړه چول دی
هز نفس په تشه تشه تمنا

❀ ❀ ❀

رستمان د صبر زهد ستایه عشق کښې
نخول شی د ریه د رلکه بیز و

عاشقی به ئی اخر تر بنی سپك کړی
که وی دروند تر کوه قافه تول د چا

❀ ❀ ❀

د عشق بار چه اسمان ځمکی ساهه نشو
تا په کوم قوت ساهه کو تاه اندیشه

❀ ❀ ❀

لکه لو بی هلکان په لیو نو کا
عشق می هسی مسخره کړ عقل و هوش

❀ ❀ ❀

هر ساعت لکه خلیل په عاشقی کښې
تماشه کړم د گلزار په سرو لمبو کښې

❀ ❀ ❀

هسی زه دځان په غوښو عشق اخته کړم
لکه نه خپړی له ځانه د یمن لاس

❀ ❀ ❀

عشق دبوری دبد نامی کار راوکړ
لاس په خوله ایښی زړا کړم شب وروز

په راستۍ مې دخپل عشق هسې باور دی
چه همدم به یم له ښکلو پس له مرګه

❀ ❀ ❀

څه فسادوستا په خاو رو کښې حمیده
چه د مینې په کیمیا هم سره زر نشوه

❀ ❀ ❀

څه کیمیاده عاشقۍ په لاس درکړی
چه دې وینم په خوارۍ کښې مغرور هسې

❀ ❀ ❀

یا دښکلو د پا و لیو شر نګهار دی،
یا د عشق د لېو نیو د ځنځیر

❀ ❀ ❀

هنګامه د مینې ګرمه ده تر حسنه
د مجنون د در ګدا شه لیلی مشه

❀ ❀ ❀

د حمید زندګانی دیار په مخ ده
نا قصان به ئې ژوندی بولی په ساه

❀ ❀ ❀

ددی څوبیتو څخه ښائی چه درحمان بابا اودحمید دعشق رنګ او ډول څه نه څه څرګند شوی وی او دامعلومه شوی وی چه دواړه دشعر په محفل کښې دعشق سرینده غږ وی مګر هغه پکښې دخوشحالی بدلی اودی پکښې دغم سندرې وائی - دی دعشق اومینی مرور اشنا اوهغه پخلا معلومېږی یعنی دهغه دخو شبینی جنبه قوی ده اودده دشکایت هنګامه ډېره زور وره ده .

دافیصله دیوه عمومی نظر نتیجه ده که څوك ددوی دواړو یو یو بیت له نظر لاندی ونیسی ښائی چه درحمان بابا په اشعارو کښې هم دشکایت یو نیم بیت پیدا کړی لکه :

اشنا ئی تو ره بلا ده اشنا مشې
جدا ئی به دی فنا کړی فنا مشې

اودحمید په دیوان کښې هم ځینی بیتونه ومومی چه دعشق ستاینه اوکیمیا توب ورځنی څرګند شی مګر په عمومی صورت همدغه راز ایسی لکه چه مونږ ورته اشاره وکړه .

څه شی چه دحمید په شاعرۍ کښې ډېر زیات ترسترګو کېږی هغه دخط کلمه ده چه اصلاً دفارسی ادب مهم عنصر دی اوهلته په راز راز پیرایو کښې ادا شوېده مګر حمید هم دپښتو ادب خصوصیت ته نه دی کتلی او داپر دی مضمون ئی پخپلو اشعارو کښې دومره اړولی رااړولی دی چه دده دشاعریت مهم غړی ورته ویلی شو اودلته ئی ځینی نمونې ښیو :

منت بار دې یم د زیری د آغاز
چه ئی کم کړستا دحسن کبروناز

❀ ❀ ❀

په نو خطو پسی تللی زړه موند نشی
هغه ورك شو چه په شپه داور په سوی لاړ

❀ ❀ ❀

چه مې و لیده په مخ د دل ارام خط
بیا مونده له ازادۍ نه ما غلام خط
د اشنا دمخ د خط هیبت مې و خوړ
چه مې ولید په شرابو کښې د جام خط
دبهار او ریځی نه وی بی بارانه
په رښتیا کادبوسې زیرې پیغام خط
د مقصود د رمې ونه لیده تیاره شوه
صبحدم دیار دمخ کړ راته شام خط

❀ ❀ ❀

دخط خیال مې دی له سره تلونی نه دی
که سایه پری د هما شی بر ابره

❀ ❀ ❀

چه مشغول داستادمخ په خال وخط شوم
مشغولا را څخه پا ته د کتاب شوه

❀ ❀ ❀

ځکه زه کوم اسره دیارو خط ته
روانېږی مشکل متن په حا شو

❀ ❀ ❀

هومره ښه دې خال وخط راسره وکړه
چه را وې ایستم له اوره په اغزو

❀ ❀ ❀

زر په زر به ئی سیاهی دخط پښیمان کا
دا دمخ په روشنائی باندی مغرور

خدا یه خط د یار له مخه لرې لرې
په اسلام باندې بر مشه لاس د کفر

❀ ❀ ❀

هغه مخ چه مې کعبه وه د د وه ستر گو
مسلط که باندې خط مو اس د کفر

❀ ❀ ❀

لا که مخ له خال وخط آب وتاب ډېر
ولې تاب وې د اوریځې دافتاب ډېر

❀ ❀ ❀

دتور خط لیکه ئې گوه په سپین مخ شوه
تور او سپین زما دستر گو شو په دا گو

❀ ❀ ❀

دا رموز کا د یار خط په ما ته ژبه
چه خوږه کړه نن ساعت هر چا ته ژبه

❀ ❀ ❀

دا شنا له خال و خطه معلو مېږې
چه حمید به مسافر د هند و ستان شې

❀ ❀ ❀

لگې لا دخط په و خت دیارعتاب سخت
وې دشپې بادوباران سیل وسیلاب سخت

❀ ❀ ❀

د نو خطو د رشتې زما اشتې ده
په اغزن بوتې ارام کا عندلیب زما

❀ ❀ ❀

خه به خوب کوم دیارد خط له غمه
چه اغزې مې په لیمو کښې غړوې

❀ ❀ ❀

هسې شپه د یار دخط را باندې راغله
چه هرگز به تر قیامته سحر نشې

❀ ❀ ❀

خال وخط ئې هسې چارې په مخ وکړې
لکه گل شې پښو لاندې د هاتیانو

❀ ❀ ❀

سپېلنې غونډې په اور د نو خط حسن
سر تر پا په سره لمبه شم شنه لوخړه

دائې خط نشو و نما کاندې له مخه
که نرې نرې لوگې لحې له چراغه

❀ ❀ ❀

خط په مخ دصنم راغې که میاشت گیرشوه په هاله کښې
دائې غاښ په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې

❀ ❀ ❀

له دغوخو بیتونو څخه دومره پته لگیږې چه حمید دفارسې شاعرې له تاثیر لاندې ډېر زیات را غلې دې اودپښتو دشاعرۍ خصوصیت ئې لږ څه بایللې دې دهمدې لامله لحینې لحایونه ئې تخیل هم فارسې رنگ لرې اولحینې فارسې مصطلحات ئې هم په کلام کښې لیدل کیږې چه یوخو نمونې ئې دادې:-

که حمید د زنخدان له غمه ژاړې
په کوهې کښې اویزان دې نه دې گرم

❀ ❀ ❀

که مې تا د مرگ سلانه ده ورکړې
زنخدان دې راته کینې گور په خه

❀ ❀ ❀

چه ئې ستا دتنگې خولې تصور واخست
په دې فکر کښې غنچه شوه په زړه تنگه

❀ ❀ ❀

دا زما د سر وقد دقد له شرمه
فلک و دریده سر کوزې خمیده

❀ ❀ ❀

چه خندادې کیند کوهې په زنخدان کښې
ما هاله پکښې لیده خپل پر بوا ته

❀ ❀ ❀

وایم پر بوتم وسل گزه کوهې ته
چه په یاد راته د ښکلو زنخدان شې

❀ ❀ ❀

چه دا ستا چاه زنخ ته نه رسېږې
د کم عمر رسن خه کوم بې تا

دلته باید خوک دا گمان ونکړې چه زه دده هر بیت چه نازک خیالې پکښې وې دفارسې ادب اغیزه بولم یادا

وایم چه په پښتو اشعارو کښې بیخی تخیل نشته او نازکخیالی پکښې نه ځائیږی - زه به تاسی ته د پښتو په عام ادب اولنډیو کښې هم نازکخیالی وښیم چه څوك ورته د فارسی اغیزه ونشی ویلی او د پښتو خپل مال ئی وبولی لکه :-

په گو درسور سالو ښکاره شو
ماوې دې تورواوبو اورواخست مینه

حمید هم ځینی بیتونه لری چه هغه دده خپل تخیل دی او پردی رنگ نلری لکه دا بیتونه :-

لکه سر دپسه په اور غاښونه سپین کا
هسی مالره له غمه خندا راغله

❀ ❀ ❀

د اشنا دمنگوری زلفو په خیال کښې
موی په موی راباندی زهر دمنگورځی

زما مقصد له فارسی تخیل څخه هغه تخیل دی چه په فارسی ادب کښې ئی دضرب المثل حیث پیدا کړیدی او دفارسی دټولو شاعرانو مشترك مال گرزېدلی دی لکه دحمید پدی بیت کښې ئی چه گورو :-

دهوسی په ښکر برات زماد مطلب شو
هوسی زه نشم نیوی د پښو په دو

دلته که څه هم دفارسی دامخصوص مضمون (برات عاشقان برشاخ آهو) ډېر ښه اداشویدی ځکه چه پدی ځای کښې دامضمون یو مخصوص لطف هم لری چه (برات) نامی دحمید محبوب اومعشوق هم و ، او په همدغه سبب پکښې یوه ښه تلمیح هم شته مگر بیاهم دیوه پښتانه شاعر دستاینی موجب نشی کېدی اودحمید دپاره ئې عیب بولو که څه هم دنورو دپاره حسن دی .

حمید په همدغه سبب چه فارسی ادب لږ څه دده دخولی خوند بل راز کړی دی ځینی داسی بیتونه ئی خولی ته ورغلی دی چه هغه دپښتو دعمومی صفت منافی بلل کېږی اودنورو پښتنو شاعرانو په کلام کښې دومره ډېر نه لیدل کېږی لکه داڅو بیتونه :-

بیهوده مې ځان شمېره دیار له سپیو
چه لایق په دغه شمار کښې نه و، نشو

❀ ❀ ❀

دا خطاب د پادشاهی دسلطانی دی
چه یار وبولی حمید د سپی په اسم

دحمید په څېر به ځان دښکلو سپی کړی
که څوك بیامومی دعشق کمینه فیض

❀ ❀ ❀

په سړو کښې به ځان هومره حساب نکړم
څو حساب نشم دیار ددر په سپو کښې
ستا ددر دسپیو قدر مې بیا نه موند
که هرڅو مې درته ځان کړ کمینه

❀ ❀ ❀

داسپی توب دی زما خوښ ترسړیتوبه
که په مینه کښې هرڅو سړی سپی کېږی

❀ ❀ ❀

چه سپی توب دعاشقی راڅخه نه ځی
ځکه شم با له شاړه په توپه چخه

برسېره پدی چه فارسی ذوق دده په دیوانکښې دغه راز دعزت النفس منافی بیتونه پیدا کړی دی ځینی داسی بیتونه ئی هم دده له قریحی زیږولی دی چه لکه دفارسی ځینی تخیلی بیتونه له واقعیت اوحقیقت څخه ډېر لری وی چه دغه راز بیتونه دپښتو په ادب کښې بل راز ایسی اودپښتو په ذوق هم چندان ښه نه لگی وگوری حمید په یوه ځای کښې وائی :-

زلزله دیار د خط در اتلو گوره
نړوی می په تندی آسمان د مشکو
چه او ریځ دیار دخط په خاطر راشی
او روی می ترلیمو باران د مشکو

❀ ❀ ❀

دابیتونو علاوه پردی چه دوقوعیت په لحاظ پری اعتراض کیدی شی دشعری تناسب په اعتبارهم دانتقاد وړدی ځکه چه دمشکو آسمان، دخط زلزله او بیاهغه مفهوم چه دی ئی له دی دوومصرعو څخه اخلی څورازه نواقص لری، همدارنگه داوښکو باران ته دمشکو باران ویل هم یوه نوی خبره ده .

په یوه بل ځای کښې وائی :-

خال وخط ئی هسی جاری په مخ وکړی
لکه گل شی پښو لاندې دهاتیانو

❀ ❀ ❀

دلته که خط دهاتی مثال پیدا کړی شی او مخ لکه



اعلیحضرت همایونی په نندارتون کښی مطبوعاتی چاری گوری



اعلیحضرت همایونی په نندارتون کښی

گل ددغه تورهاتی له پښو لاندی وگڼونو دیوی بعیدی تشبیه په سبب څه اړخ ورسره لگوی مگر خال ته هېڅکله دانشوویلی ځکه چه هغه لادمخ دښایست او ښه ښکاره کېدو سبب گرزی نوخال پدی بیت کښې خوشی په خوشی دخط په ډپ کښې ولاړ . دغه راز شیان نورهم له فارسی نه پښتو ته راغلی دی چه دحمید په اشعار و کښې له رحمان بابا او نورو شاعرانو څخه زیات ترستر گو کېږی .

رحمان بابا هم یو نیم ځای خط یاد کړیدی او دفارسی ادب اغیزه ئی په کلام کښې په هغه اندازه چه گډون او اجتماع تقاضا کوی لیدل کېږی مگر دحمید پکښې کوډی ولاړې دی او دده دناز کخیالی بوده یا تنسته ئی بلل شو .

دحمید ډېر بیتونه مود خط په باب کښې وارو ېدل اوس درحمان بابا یو بیت هم واوری :

په رخسار چه دې دخط غبار څر گند شو
سر بلنده شره فرقه دخاکسارانو

❀ ❀ ❀

که مو په یاد وی حمید هم دغسی یو بیت لری چه دمضمون په لحاظ همدغه بیت ته ډېر نزدی دی خو شاعریت ئی کمزوری دی ځکه چه هغه ښکاره او په ډانگ پیلی خپل معشوق ته وائی :

منت بار دې یم دزیری دآغاز
چه ئی کم کړ ستا د حسن کبر و ناز

مگر رحمان بابا په هغه ژبه چه دشعر او ادب تقاضا ده همدغه مطلب ادا کوی او یوازی دحسن او ناز کمېدل لاڅه چه دمحبوب خاکساری ته هم یو شاعرانه اشارت کوی او په مقابل کښې ئی خپله سربلندی ښئی مگر خپل مناسبت ورسره په ښه شان ساتی او په عین حال کښې دخط تشبیه له غبار سره او بیاد خاکساری مفهوم پکښې پیدا کول پوره شعری کیف لری .

په یوه بل ځای کښې هم رحمان بابا خط وخال ته پدی رارگوری :-

ستا دمخ په ورق باندې خط وخال دی
د مصحف په صحیفو باندی اعراب

❀ ❀ ❀

پدې بیت کښې د خط و خال تشبیه د مصحف له اعرابونو سره شوېده او پخپله مخ لکه دمصحف پاڼه گڼل شویده مگر حمید پخپل یوه بیت کښې ورته د کتاب دحاشو نسبت کوی او وائی :-

ځکه زه کوم اسره دیار و خط نه
روانېږی مشکل متن په حاشو

پدی کښې هیڅ شك نشته چه حمید هم پدې ځای کښې درحمان بابا مطلب ادا کړیدی خو هغه کیف او لطف چه د مصحف او اعراب په کلمه کښې مومو په متن او حاشو کښې ئی نه وینو ځکه چه دمخ تشبیه له مصحف سره نسبت متن ته زیات مناسبت لری او یو ښه تخیل هم سړی ته پیدا کوی همدارنگه کله کله رحمان بابا چاه زنخدان هم یاد کړیدی لکه :-

خوند دلبو او دچاه زنخدان ئی
راشه گوره زمزم دادی کوثر دادی

❀ ❀ ❀

مگر حمید ورځنی سل گزه کوهی جوړ کړی او خپل قبر ئی هم پکښې لیدلی دی .

سړې چه درحمان او حمید شاعری ته ښه ځیرشی داسی معلومېږی چه حمید کله کله په پېچلو مضامینو او سخرو غوټو کښې هم شعر او شاعری لټوی مگر رحمان بابا یوازی په ساده بیان کښې شعری سحر پیدا کړیدی او هېڅکله داسی نه کوی چه دخط له وریځی څخه دمشکو بارانونه واوروی یا دخط دزلزلی په اثر کښې دمشکو آسمان ونړوی- له خط نه هاتیان هم کله نه جوړوی او دهوسی په لښکر براتونه هم نه لیکی مگر حمید اسمان ته دشعر ځینه اېښی ده (۱) او همدومره پاته دی چه دغم له زنونه سرراپورته کړی او پورته ورو خیژی مگر زما په گمان چه همدغسی مغموم ورختلی دی او دفلك په مانۍ کښې ئی هم دغم اورونه بل کړیدی لکه چه پخپله وائی :-

چه بلېږی پکښې اورزماد آه
څه به نه وی د فلك مانۍ سیاه

❀ ❀ ❀

دهمدی لامله خپل آشنا ته هم له پاسه دار از پیغام استوی :-

سرتړونی نوې میاشت تر سر جارباسی
دهر ښکلی درد په سردی ستا له درده

❀ ❀ ❀

هغه وخت چه دخپل صنم په مخ دخط لیکه شاوخوا گوری نو هم سمدلاسه وائی :-

خط په مخ دصنم راغی که میاشت گیر شوه په هاله کښی
دائی غاښ په خوله کښې زیب کاکه ژاله شوه په لاله کښې

---

(۱) و اسمان ته به دشعر ځینی کښېږ دی
که حمید د غم له سره ز نگون و کیښ

داسمان شفق هم دخپل زخمی زړګی دسمال بولی
چه یه همدغه اسمانی سیر کښې ورځخه لوېدلی او هلته
پاته شویدی لکه چه پخپله وائی :-

ناخبره خلق ئی ولی شفق بولی
دازمادزړه له زخم دسمال پر بووت

❀ ❀ ❀

نوځنګه چه په فارسی کښې بیدل پخپله شاعری-
کښې په یوسخته لاره روان دی چه غرونه او پیچومی
پکښې زښت ډېر دی حمیدهم کله کله په لوړ ومضمونو
پسې داسمان په ځنډو ګر زی اوله عامې سطحې ډېر
پورته کېږی مګر رحمان بابا پخپله مسله نا ست دی
د اسمان رانه ستوری ئی په لمن کښې لکه مرغلری
راټوټېږی ، دی ورځنی دلویو اووړو دپاره ښایسته
امیلونه جوړوی اودخپلو نمسیانو په غاړه کښې ئی اچوی.

نودحمید دشاعری- زور او قوت اغلباً په تکلفی
او پیچیده مضامینو کښې ګورو اوزیاته پهلوانی ئی هم
په همدغسی تشبیهاتو او استعاراتو کښې وینو مګر
درحمان بابا په شعر کښې یو بل راز کیف مومو چه هغه
دده په ساده انشا کښې دشعر پرښتو اغزلی دی او په
هیڅ راز تکلف نه دی بنا - دهمدی لامله کله سړی دده
په ځینی اشعارو کښې یو ډول خوند اوخوږوالی څکی
چه هلته دتشبیه یا استعاری غاړه هیڅ نه لیدل کېږی
اوخه تخیل هم پکښې نه وی لکه یدی بیتو کښې :-

که یو ځله مې دې زلف په لاس کښېوزی
یو وینته به دې په درست جهان ورنکړم
خو دې ونه وینم سترګی که خدای کاندی

عزرائیل لره به هو مره ځان ورنکړم
معشوقی د عاشقانو دین ایمان دی
زه به چا لره خپل دین ایمان ورنکړم
په رحمان بانده دلبو می حرام دی
خو د خپلو وینو جام تاوان ورنکړم

❀ ❀ ❀

درحمان بابا په دیوان کښې دغه راز ډېر بیتونه
موندلی شو چه لکه اصیلی مرغلرې له ځان یوه اصلی
رنګا لری اودخپل ساده جوهر په لحاظ هرچاته ښکلی
اوښایسته ښکاری و ګوری ! دابیت :-

څه اثر به ئی دعقل وی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېنی ښاپیری-

❀ ❀ ❀

خومره ساده کیف لری چه هیڅکله ئی سړی په یوه
تکلفی اوپیچیده مضمون کښې نه مومی.

څوك چه درحمان بابا په دیوان کښې مطالعه لری هغه به
داومنی چه دده ساده انشا یوداراز خوند او کیف لری
چه هغه هیڅکله په مصنوعی اشعارو اوشعری صنایعو کښې
نشوموندلی دا اقتدار خدای یوازی رحمان بابا ته
ورکړیدی چه ډېر پیچیده او ګران مضمونونه دومره
ساده اواسانه کړی چه خاص وعام هرڅوك پرې وپوهېږي
اوخوند ورځنی واخلی - دی ډېر ځله په یوه غزل کښې
دعشق مرموز کیفیتونه، دژوندانه پټه فلسفه ، اوشاعرانه
نازك خیالات داسې یو ځای کوی چه یو ډېر ساده
اوروان خوندور شعر ورځنی جوړېږی .

دنمونې په ډول ئی داخو بیتونه و ګوری :

که په ګنج دشاهی فخر شهریار کا
عاشقان ئی د دلبرو په رخسار کا

خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی
هغه حظ چه په دنیا کښې دنیادار کا

پتنګانو لره خدای ورکړه په اور کښې
هغه عیش چه ئی بلبلې په ګلزار کا
یار دناز له خو به پاڅی پسی ګرزی
چه فلك د عاشقانو بخت بیدار کا

نیمه شپه ئی یار ترسره پوری کښېنی
لکه شمع چه خوك بله په مزار کا

دمستی دهوښیارې یون ښه خرګندوی
په هرچا کښې چه څه وی هسې رفتار کا

د بلبلو نغمه زاغ کو لی نشی
هرسرود اوازپه طوردخپل تار کا

هر کله چه درحمان بابا په شعر اوشاعری- باندې
د کابل دمجلی په (١٤٦) ګڼه کښې هم خبری اتری
شویدی اوتریوه حده دده شاعریت اوشخصیت ښودل
شویدی نو داخل ورځنې لږ څه څنګلپری تېر ېږو
اوپه حواله باندې ځان خلاصوو .

دحمید دشاعری- رنګ به هم دده له اشعارو څخه
څه نه معلوم شوی وی اولوستونکی به دومره پوه شوی وی
چه دادعشق اومینی په لمبو سوی اوستی شاعر بی له سوز
او ګدازه نورڅه نه خوښوی اوبل راز ژوندون هیڅکله
له خدایه نه غواړی دهمدې لامله دخپل دیوان شروع
په دې ډول کوی :

الهی د محبت سوز و ګداز را
په دا اور کښې دسهی سمندر ساز را
تن پرور بلبل دی عیش کاندې پر ګلو
پروانه لره په اور زما ګداز را

خنګه چه‌دی دخپل‌دیوان په‌اغاز کښې خپله خط مشی‌ښئی اوله‌اوی خدایه‌دیوه‌سوزان عشق‌ارزو کوی تر اخره پورې دده په زړه کښې دالمبه نه سرېږی اوهرهرځای همدغه سوال کوی :

چه دې‌نوم په‌غوږو واروم سره لمبه‌شم
هومره سوز را کښې پیدا کړی زما ربه

❀ ❀ ❀

دهمدی‌لامله په‌هرځای کښې چه‌دمینی‌اوعشق‌خبره یادېږی‌دده په‌مخکښې سری‌لمبې جلوه کوی او دسوز وګداز منظرې ئی ستر ګوته درېږی او په ډول ډول پیرایوکښې وائی :

له‌حجابه ئی جلوه هسی جمال کا
لکه شره لمبه چه خېژی له تنوره
زه‌دشمع په‌خېراوریه‌تندی بل کړم
ته دصبح په‌خېر خاندی له غروره

❀ ❀ ❀

هر ساعت لکه خلیل په عاشقی کښې
تماشه کړم د ګلزار په سرو لمبو کښې

❀ ❀ ❀

لکه موم سوز و ګداز مومی له اوره
هسې زه مومم له تا سوز و ګداز

❀ ❀ ❀

شومی سوز لکه د شمع دل افروز
په ژړا مې ځکه نه ځی د زړه سوز

❀ ❀ ❀

هسې‌یم په‌درد وغم کښې ددلبر خوښ
لکه‌اوسی په‌سره اور کښې‌سمندرخوښ

❀ ❀ ❀

همه عمر ولاړ ښه‌یم په سره‌اور کښې
نه بی‌یاره دشاهی په شر وشور کښې
سرې لمبې ستی‌سهی په صورت باندی
سهیدی نشی بی یاره په پیغور کښې
چه خراغ دیار د مخ راته بل نه وی
زه‌په ګور کښې ګنم‌خپل‌سر په‌دا کور کښې

❀ ❀ ❀

د حمید د زړه رڼا په‌ښکلی مخ ده
په دا کور کښې نشته بله بله شمع

❀ ❀ ❀

نودغه سپیڅلی‌اورچه‌هروخت‌دده‌دزړه‌په کوه‌طور کښې بلېږی اودده مخه رڼا کوی دهر راز ستایلو او نمانځلو حق‌لری ځکه‌چه‌همدغه‌اور دشعراوانسانی‌مینی ساه ده چه دانسان د زړه په فانوس کښې رڼا کوی اوبشرته دسعادت لوری اولاره ښئی ـ دده له همدغه اورخخه دشعر او شاعری ـ ډېرې ډیوې هری خواته بلې‌شویدی اوډېرو خونوته‌ئی رڼا رسېدلې ده .

دغه سوز و ګداز چه حمید ئې له خدایه غواړی او لکه پتنګ وریسی شمعې او ډیوې لټوی دانسان ازلی برخه‌ده اود انسانیت‌په‌دنیا کښې ډېرلوړ قیمت لری .

داجذبه‌باید شاعران وروزی‌اوداهنګامه‌همدغسی ګرمه‌وساتی لکه چه‌حمید ساتلې ده‌ځکه‌چه شعردهمدغه احساس د وینبو لو او پالنې دپاره دنیاته راغلی دی او دزړه ونو اصلاح هم په همدغه دوا باندې کېږی ـ پورښتیانی او فطری شاعر بایدپه دنیا کښې بی‌له‌مینې او حسن ځخه بل‌حقیقت ته‌قایل نشی او نورخه ونه‌پیژنی لکه‌چه حمید وائی :ـ

یاد ښکلو دپا ولیو شر نګهاردی
یا د عشق د لپو نیو د ځنځیر

❀ ❀ ❀

مګرپدې دواړو کښې‌هم دعشق اومینی‌حق مقدم کښې اوپه‌حسن باندې ډېره تر جیح ورکوی لکه چه‌په یوه‌بل ځای کښې وائی :ـ

هنګامه دمینې ګرمه ده تر حسنه
دمجنون د در ګدا شه لیلی مشه

❀ ❀ ❀

نوویلی‌شو چه‌حمید دشعر اوشاعری ـ په‌مقام کښې دیوه پاخه استاذ ځای لری ځکه چه ده دشعر اصلی او اساسی راز ډېر ښه پیژندلی دی اوحق لری چه دیوه‌نوی مکتب اوسبک استاذ ورته ووایو او په اخر کښې یوه نری ـ ګله ورځنی وکړو چه‌ده‌ولې دفارسی شاعری ـ ته میلان درلوده اوپر دی رنګ ئی په پښتو کښې ګډاوه .

دلته‌ډېر تعجب‌په‌کاردی چه‌حمیدغوندی‌یوپوخ شاعر او امام ادیب چه په پښتو او پښتنوا له ډېر ټینګ دی اومغلواله ډېره‌بده ګڼی‌خنګه پدې باندی راځې‌کېږی چه دمولانا غنیمت هغه مثنوی‌چه‌دپښتو غند نه پکښې شته اودپښتو دادب‌برخلاف دامردبازی‌ـ داستان هم‌پکښې شروع کېږی په‌پښتو نظم‌ترجمه کوی‌او دغه‌راز کار ته زړه ښه کوی .

دپلوعسکرو درسم گذشت یوه منظره

دسپرو عسکرودرسم گذشت یوه منظره

کیسې اونکلونه

روح څارونکی

دیو ایطالوی لیکوال
«چیوفانی بابینی» په قلم

زما په جیب کښې دومره پیسې وې چه په هغو مې یوه پیاله چای وچښه او ترچایو وروسته مې دا خیال پیدا شو چه دډوډۍ به څه چل کوم لوږی وار خطا کړی وم او په جیب کښې می بالکل یوه پیسه نه درلود له؛ او زه لکه چه ډوډۍ ته لېوال وم دشهرت هم ډېر لېوال وم ؛ او په دغه ځای کښې ما دیوی مجلی سره دا قرارداد کړی وچه یوه قصه به په پنځولیرو در کوم ؛ لیکن که دبل چا قصه به ئی موندله نو زما قصه به ئی نه اخستله او که بله قصه به ئی ونه موندله نو دضرورت له کبله به ئی زما قصه اخستله .

یوه ورځ ډېر ساړه و او باران اورېده ډېر سخت باد او ساړه هم ډېر زیات وو ، په دغه وخت کښې زه یوه هوټل ته ننوتلم او یوه پیاله چای می راوغوښت او په څکلو می پیل وکړ په دې ضمن کښې مې دیوی قصی دجوړولو په خواوشا کښې فکر کاوه او په دی فکر کښې وم چه یو عجیبه فکر او خیال پیدا کړم او دهغی په خواوشا کښې دیوی قصی مضمون ولیکم چه دغه مفکوره زما دقصی او بیان موضوع شی او زه یوه داسی قصه ولیکم چه زه ئی په پنځولیرو خرڅه کړم او زما دورځی خرڅ پری وشی .

زه پدی فکر او سودا کښې لاهووم چه زه نن شپه باید یوه قصه ولیکم او دمجلی خاوند ته ئې یوسم او دهغه څخه دخپلی گذاری دپاره څه پیسی واخلم ؛ ددې مقصد دپاره ما ځانته څه کاغذ په میز ایښی و او هم په دی فکر او سودا کښې وم ؛ لیکن هر کله چه زما فکر مشوش او خراب و او دخپل ځان په غم اخته وم نو هیڅ شی می فکر ته رانغی او څلور ساعت کوښښ می وکړ لیکن په خپل عزم کښې کامیاب نه شوم او څه چه می په جیب کښې لرل هغه مې دمیز دپاسه کښېښودل او دهوټل څخه دباندی ووتلم .

په دغه وخت کښې می دپخوانو مشرانو یو متل را په یاد شو «چه کوم خلك چه دا کار کولی شی چه خپل ژوندون مدون کړی ، نو هغوی دا هم کولی شی چه ښې خوږې قصی ولیکلی شی» ما په دی متل کښې هم ډېر فکر وکړ لیکن سره ددی هم زما فکر او مغز و ته یو نوی خیال رانغی ، او په دی فکر کښې زه خپل کور ته روان شوم او په لیار کښې می دا فکر وکړ چه زه دیو عادی انسان قصه ولی ونه لیکم او څوك چه زما مخی ته راغی دهغه سره به خبری اتری وکړم او دغه قصه به ولیکم او ددی مفکوری په اثر زه دیو عادی انسان په شکل کښې شوم او په لیار و کوڅو کښې می گرځیدل شروع کړل ډېر خلك می ولیدل لیکن دیو داسی سړی سره مخامخ نشوم چه زما کار پری وشی ، زه په یو میدان کښې ودریدم . دلرې می څه شی ترستر گو شو اول می دا فکر وکړ چه مخی ته ئې ورشم لیکن وروسته می دا فیصله وکړه چه دی زما خواته راځی نو زه څه دپاره ورشم زه دیو ښکاری پشان غلی په خپل ځای ودریدم دی زما دخوا څخه تېر شو چه زه ده ته ښه ځیر شوم ما خپل مطلب په ده کښې ونه لید او هیڅ می ورته ونه ویل لږ ساعت وروسته یو بل سپین ږیری سړی تیر شو ورو ورو ئې دځان سره اسپانوی بدلی ویلی زما دا خیال راغی چه شاید په ځلمی توب کښې ئی دیوه شی سره مینه او علاقه لرله په ده می هم غرض ونه کړ ، څومره خلك چه په دغه لیار تېرېدل ، ما ته په دغه خلکو کښې ځکه خپل مطلب نه ځلیده چه دغه ټول شته من او بیغمه خلك وو ، لیکن سره ددې هم زما په عزم کښې فرق رانغی او په دغه سړه شپه او یخنی کښې زه په خپل ځای

دخپل ښکار په انتظار کښې ولاړ وم ، چه نا څاپه یوسړی مې له لرې ولید چه زماخواته راغی نوزه په دې خبره پوه شوم چه هم داسړی زما په کاردی داسړی نه ډېر زوړ او نه ډېر ځلمی اونه ډېر ښکلی اونه ډېر بدرنګ و . چه دی زماڅخه خوقدمه وړاندی تیرشو ماده په اوزه لاس کښېښوداو ومې در اوه دی زما ددې وضعیت څخه ډېرو ویریداوما باندې ئې دغله اویالیونی ګمان وکړ ، ماورته په ډېره عاجزی وویل چه زه نه لیونی او نه غل یم اونه لیاری وهم زه له تاڅخه پیسی روپی نه غواړم زه تا څخه صرف داغواړم چه ته ماته دخپل ژوند ون قصه بیان کړی چه زه ستادژوندون په خواوشا کښې یوه قصه ولیکم اوسباته ئې په یوه مجله خرڅه کړم او په پیسو ئې دخپل ژوندون ضروری احتیا جات پوره کړم ، زه تاڅخه داهیله لرم چه ته زما په حال رحم و کړی او ماته دخپل ژوندون واقعات مفصل بیان کړی ، زمادی عذر اوخبرو په دغه سړی اثر وکړ اوراته ئې وویل چه ډېره ښه ده .

ماتری پوښتنه وکړه چه ته څوك یې؟ اوڅه کوی ده راته په ځواب کښې وویل چه زه دپنځو ډېرشو کلوسړی یم زه په یوه شریفه کورنی کښې پیداشوی اودپلاریوزوی یم، دخپل عمر په (١٦) یا (١٨) کال په یوه مدرسه کښې شامل شوم نه ډېر ناپوه اونه ډېر زیات پوه سړی یم مادخپل عمر په (٢٤) کال شهادتنامه واخستله اوتردی وروسته زه خپل پلار په ریل کښې نوکر کړم اوماته ئې یوه ښکلی پیغله واده کړه زه دورځی اته ساعته کار کوم اوپه ډېر صبر او مینه سره خپله وظیفه په ډېر صداقت سره اجرا کوم اوپه شپږو کالو کښې زما معاش دوه پونه زیاتېږی ترڅو چه زماعمر (٦٤) کلوته رسېږی نوزما معاش به . . . شی ، فی الحال دوه اولادونه یعنی یوزوی اویوه لورلرم چه زوی به مې په دی څو ورځو کښې مهندس اولوربه مې معلمه شی ، نن زه بالکل دبیغمه اوښه ژوندون خاوندیم .

دسهار په اتو بجو دخوب څخه راویښېږم اوخپل کارته ځم اودشپې په ٩ بجو هوټل ته ځم اوپه هغه ځای کښې دخپلو یارانو دوستانو سره خبری اتری کوم اوپه خپل مقرر وخت راځم اوبیده کېږم . دغه زما دژوندون لنډه قصه وه اوس دی په خدای سپارم لس دقیقې ځنډ شوم اوتاسره په خبرو اترو زما لس دقیقی وخت ضایع شو . ددې سړی دی مرتب اوبیغمه ژوندون ته زه حیران پاته شوم اوداخبره راته ثابته شوه چه دادنوی ژوندون ښه نمونه ده اوداسی خلك داجتماعی ژوندون دماشین مهمی پرزی دی. اودنوی ژوندون دمیدان پیاوړی خلك هغه خلك ګڼل کېږی چه عیثوخیالونو اوخوشوافکاروته په خپل دماغ کښې ځای نه ورکوی، زماداخیال وچه په دی نوی عصرکښې بیغمه ژوندون نشته لیکن نه زما دغه خیال غلط و .

دی نه وروسته می داخیال راغی چه له ده څخه نوری پوښتنی هم وکړم ددې خیال په اثرزه په ده پسی ورګړندی شوم او ورته می وویل چه ستادژوندون په قصه کښې له تاڅخه کوم شی ندی پاته شوی؟ اوچا ستا دوژلو اویاتادچا دوژلوقصد خونه دی کړی؟ اوپه تاباندی په خپل ژوندون کښې کو مه عجیبه واقعه خونه ده پېښه شوی ؟ ده راته په ځواب کښې وویل چه نه، ځکه چه زه دعادی اومنتظم ژو ندون خاوندیم نه می دومره خو شحالی اومستی لیدلی ده چه زه ئې دسړی تو ب اوانسانیت دلیاری څخه بیرته کړی یم او نه را باندی داسی غمونه راغلی دی چه زه ئې دخپل اعتدال څخه بی اعتداله کړی یم اوپه ما باندی دذکروړ عجیبه قصه نده راغلی .

ماورته وویل چه داته رښتیاوائی؟ زه خودانشمنلی چه بل څوك به ستا پشان ژوندون لری ؛ ده راته وویل چه زه تاته رښتیاوایم چه ماته داسی واقعه نده پېښه شوی چه هغه دذکر وړ اوعجیبه وی ، زما دعمر عجیبه قصه هم دانن زما اوستا خبری اتری دی؛ او که ته غواړې چه زما دعمر عجیبی پېښې ولیکی نو همدا زما اوستا دننني شپې خبری ولیکه ؛ دائی و ویل او روان شو اوماورته حیران حیران دتعجب په نظر کتل .

دینه وروسته کورته راغلم اوددغی قصې په لیکلو می کفایت وکړ . اوله دغی ورځی وروسته می داقصد او تینګ عزم وکړ چه زه به بیا په عادی خلکو پوری نه خاندم اونه به دوی ته په سپکه سترګه ګورم .

(دښاغلی سیفی ترجمه)



د پلو عسکرو رسم گذشت له علم مبارکه سره



دعسکر ی رسم گذشت له مناظرو څخه

د آلفونسکار اثر :

ماگدولینه

(۷)

خدای په امانی (وداع)

مترجم : ښاغلی «بینوا»

ماگډولینه دپلار ترتګ وروسته څه ګړی پخپل اطاق کی وه ، ددې پېښی په شاوخوا کی ئې فکر کاوه او که ئې کتل په هغه مدهشه توره تیاره کی ئې هیڅ یو دهدایت ستوری نه ځلیده او نه دامید کمه رڼالیدله کېده ، ځکه ئې نو په ژړا پیل وکړ اوله لوی خدای څخه ئې په سرتور سررحم غوښت ، څودشپې یوه برخه تېره شوه اوله ځایه وخوځېده په پریشانه زړه او رېږدېدلو پښوله خپله اطاقه ووتله په زینو کی ورووروپورته کېده دزینو په پای کی ودرېدله له خدایه څخه ئې بخښنه او مرسته وغوښته - بیاداستیفن داطاق خواته رهی شوه اوورئې لږپرانیت - که ګوری استیفن پرزنګنو ناست اولاسونه ئې په مناجات پورته کړی دی - دده حال په ماگډولینی کی سخت تاثیرو کی - اوبې اختیاره په ژړا شوه - او داهم دده سره په دعا کی ملګری شوه لاسونه ئې پورته کړه - په دې وخت کی چه استیفن ماگډولینی ته متوجه شوددې له لیدوڅخه ئې زړه په تپید وشروع وکړه نفس ئې تنګ اوسترګی ئې په دې کی شوې - نورئې نوبل هیڅ حرکت کولای نشو -

څو په آخر کی ئی خپل قوارا غونډ کړه او په زاریو ئی خپل لاسونه ددې خواته پورته کړه - ماگډولینه ورته رانژدې شوه وی ویل : - « استیفنه ! راغلم چه ستا سره خدای په امانی وکړم ، ځکه چه تردې ورو سته نونوره ستا سره یو ځای اوسېدلای نشم - اوس نوته زما سره داقول کوی چه نور به نو خپل ځان دغم اوغصې لاسوته نه سپاری اونه به یأس اونا امیدی ته تسلیمېږی - ترڅو چه خدای مااوتاسره یو ځای کړی بېلتون اوبیلوالی مو په وصل اویو ځایکیدو الیش سی؟ »

استیفن وویل : « دا کارستا پلاس دی ته کولای سې چه مازړور ، بردبار اومتحمل کړی - یوازی ته د اواك لری چه په امید می ژوندی وسا تې اوپه یأس اونا امیدی می مړکړی . »

ماگډولینی وویل : « استیفنه ! کمه خبره چه ترننه پوری زه په شرمېدم اوله خجالته می نشوای ویلای نن ئی تاته ښکاره وایم : چه ته زمادوست اوپرما ګران یی - ستاعشق ومینی زمازړه داسی ترخپل تصرف لاندی کړی دی چه بې له دعشق له آوازه بل ځینی اروېدلای نشم اویو ګړی تانشم هېرولای - ته وا ، ستاعشق زما له روحه سره په جسد ننوتی اودوجود له هری ذرې سره می ګډدی . - استیفنه ! مادخپل خدای اووجدان په حضورکی عهد کړی دی چه بی له تابه له بله چا سره مزاوجت ونه کړم اوپه دی ټینګ پوه شه ، چه زه به نه له خپله وجدانه سره خیانت وکم اونه به خپل خدای ته درواغ ووایم. نوځکه ستادپاره داښه ده چه په سفر ولاړسی اوپه هرځای اوهره ګوښه کی چه امکان ولری زمااوستا دنیکمرغی اوسعادت په تحصیل کی زیاروباسی اوهرښارته چه دی زړه غواړی سیاحت وکړې اوتریوه کال دوه کاله اس کاله یاډېر وکلو ورو سته بیر ته راسې اوماهم هغسی پاکه په زړه سپېڅلې دځان ګرانه مینه ومومې -

پوه سه ، چه په پېښه اوواقعه کی زموږ خیر اوصلاح نغښتی ده اوموږ ته ئې داسی تقدیر ټاکلی چه راتلونکی ژوندمو سعادتمند اونیکمرغه وی .

استیفنه ! سباپه سفر ولاړسه - په لاره کی چه هره ښه اوبده ووینی ماته ئې لیکه چه زه هم ستاپه غم اوښادی

کی در سره ملګري واوسم اوخپل حالات هم درته ولیکم . »

تردې وروسته څه ګړی دواړه پټه خوله شوه بیا استیفن وویل :

«ماګډولینی !زماسفر به اوږدسی - نو که کولای سې ماته خپل کم یادګار را که چه دسفر په رنځ اومشقت کی زماسره مرسته وکړی» ماګډولینی خپل لاس دسر خواته یووړاوڅو ویښتان ئی ده ته ور کړه ، استیفن هم یوڅه له خپلو ویښتانو څخه دې ته وړاندی کړه- بیانو ماګډولینه ورووړو دوره خواته رهی شوه . او له هغه ځایه ئی دمحبت اواوښکو اود پیغلتوب له سپیڅلتوپه ډکو سترګو دده خواته وکاته - استیفن بې طاقته شوله ځایه وخوځیداووې غوښته چه ماګډولینه په غېږ کی ونیسی ، مګرماګډولینه ژرله دروازې ووتله اودیوې شبح په څېرله نظره پټه شوه .

پردېسی (سفر)

استیفن دکوچ دورځی په سهار راویښ شو ، دپنجرې له څنګه چه باغ ته نژدې وه ودرېد - او وې لېده چه دافق لمن لږلږ غوړېږی اولمردمشرق له بالښته سرراپورته اوخپلی له خوبه ډکی سترګی سره پرانېږی څه ګړی وروسته لمرخپله نورانی جامه واغوسته اوڅو طلائی وړانګې ئې دمخه دې دنیاته راواستولې اولکه پاچاچه ترخپلو نوکرانو وروسته خپل شاهې مانۍ ته راځی پرآسمان ښکاره شو ، دلمرختو خواته نرۍ اوریځی دآسمان پرمخ خپری شوی وې اودلمرلمړیو وړانګو هغوته ارغوانی رنګ ورکاوه . دا اوریځی دهغه بخار اودود په څیروی چه دیوه لوی برج له منځه پورته کیږی ، چه کله دهغو پرسرسره راغوندیږی او کله اطرافوته تیتیږی .

دلمر ځلاندی وړانګې دسهار شبنم له څا څکو سره چه دګلو پرپاڼوپاته وه ګډی شوی اوهری خواته دالماس ددانو په شان ځلیدلی اوددوی درنګ نندارو دهر لیدونکی زړه په وجد اونڅا را ووست ، په دی منځ کی بل هیڅ زغ نه ار ویده کیده بیله د عسل دمچیوله زمزمی اوطنین څخه چه له یوه ګله په بل ګل الوتله او لکه خواږه خوبونه چه دوړو ما شو مانو پرشونډو ګرځی دګلو پرشاوخوائې طواف کاوه اودهغو خوږې عصاری به ئی ځیښلی .

استیفن دې ښکلی منظرې ته وکاته او دسترګو په کنجانو کی ئی اوښکی راغلې هو ، په یادئی شوه چه ژر به له دې کوره ووزی او دزیزفون دونی هغه سیوری چه دماګډولینی سره به ترهغه لاندی کښینوست اوداوبو هغه واله چه دماګډولینی سره به دهغی پرڅنډه ګرزید اوهغه وړه بیړی چه به ددی سره دسپوږمی په شپو په دریاچه کی تی او ننداره به ئی کوله - اوهغه کت چه دی به په دی باغ کی په ورځو ورځو باندی ناست اود ماګډولینی انتظار به ئې یوست اویا به ئې داطاق دپنجرې ترشا ددې دښکلو اندامو ننداره کوله اوهغه کړکۍ چه په شپو شپو به ئې له هغې څخه دماګډولینی نرم اوخوږ اوروح خوشالو ونکی آواز اروېد او هغه د ګلو ګېډی چه پخپل لاس به ئې دې ته تقدیمولی - اوس باید داټول پرېږدی اوددې ټولونیک مرغیو اوسعادتو څخه باید سترګی پټی کړی .

په دی وخت کی دهغه زاړه په څېر چه دزلمیتوب دورځو په یادژاړی په رټ رټ ژړائی پیل وکړ - اوهر ګړی چه به ئی دماګډولینی دتیری شپې خبری ورپه یادېدلې - اودهغې وفااومحبت ، مینه اواخلاص به ئې یاداوه ژړااوزارې به ئې ډېر یدله ، څوپه پای کی راولاړشو خپل کالی اواسباب ئې په بکس کی کښېښوول اوله اطاقه باغ ته کښته راغی - دباغ له ونو او ګلو اوکټونو سره ئې وداع اوخدای په امانی وکړه اوداسی بوټی اوښاخله ئې پرې نه ښووله چه مچ ئې نکړه - اوداسی کټ پاته نه شوچه ده خپل صورت پوری ونه مښوداوپخپلو اوښکو ئې لوندنه کړ بیائی خپل اودماګډولینی نوم دونو ترتنو نقش کړ - اودهر ګل له بوټی څخه ئې دګلو ګېډی وتړلی اوپرهر کټ ئی کښېښو ولی بیانو باغوان ته راغی چه آس ئی کرایه کړې اودی تر (کوبلانس) پوری ورسوی .

(نوربیا)

КГ